# سره میاشت

د افغاني سرې میاشتې درې میاشتنی مجله . وری، غویی، غبرگولی، ۶۹م خپرنیزکال، ۷م پړاو،۹۳مه گڼه





- په افغانستان کې د اوبو ستونزو په حل کې د افغاني سرې میاشتې ونډه
- د روغتیایي خدمتونو ریاست له رئیس سره ځانگړې مرکه
- فاجعهٔ قاچاق انسانی و دستگیری هلال احمر افغانی



تقلیل آلام بشری اولویت خدمات بشردوستانه است.



[وَأَحۡسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِينَ] : (۱۹۵ آیت د البقرې سورة)

ژباړه:

"او احسان وکړئ، بېشکه الله (جَلَّ جَلَالُهُ) احسان کوونکي دوستان ګڼي."

# سره میاشت

د افغاني سرې میاشتې درې میاشتنۍ مجله
۶۹ م خپرنیز کال، ۷م پړاو، ۹۳مه ګڼه

**د امتیاز څښتن:**
د افغاني سرې میاشتې ټولنه

**خپرندویه اداره:**
د اطلاعاتو او خپرونو ریاست

**مدیر مسوول:** عبدالفایض آشنا
**ګرافیک ډیزاین:** هجرت الله میوند

**کتنپلاوی:**
انجنیر جمعه خان نائل
دکتور اظهارالحق عزیز
شفیق احمد ریان
مفتي عطاءالله مبارز



د اړیکې شمېره: ۰۷۰۶۷۵۵۶۱۵



۱۴۴۷ سپوږمیزکال - ۱۴۰۵ لمریزکال



د افغاني سرې میاشتې مرکزي دفتر، سیلو افشار، پنځمه ناحیه، کابل

@ARCSAfghanistan
magazine@arcs.af www.arcs.af


بسم الله الرحمن الرحیم

قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ:

«المُؤمِنُ لِلمُؤمِنِ كَالبُنيَانِ، يَشُدُّ بَعضُهُ بَعضًا»

صحیح بخاری - ۴۸۱ صحیح مسلم - ۲۵۸۵

ترجمه: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ فرمودند: "مؤمن نسبت به مؤمن دیگر مانند ساختمان است، که قسمت آن، قسمت دیگرش را استوار می دارد."

## نیولیک


| سرلیک | مخګڼه |
| --- | --- |
| سریزه | ۱ |
| ځانګړي خبرونه | ۲ |
| په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې د بشري مرستو اغېز | ۴ |
| په افغانستان کې د اوبو ستونزو په حل کې | ۷ |
| په ښوونیز ډګر کې د افغاني سرې میاشتې فعالیتونه | ۱۲ |
| د افغانستان په(۳۴) ولایتونو کې د نارینه او ښځینه | ۱۴ |
| د مرکزي روغتون لخوا ترسره شوي خدمتونه | ۱۵ |
| راستنېدونکو کډوالو ته ترسره شوي خدمتونه | ۱۶ |
| حوادث طبیعی از پیشگیری تا کمک‌های اولیه | ۱۷ |
| انځوریز البوم | ۱۹ |
| له کاري شریکانو سره د افغاني سرې میاشتې د رهبري | ۲۱ |
| د روغتیایي خدمتونو ریاست له رئیس سره ځانګړې مرکه | ۲۴ |
| سخاوت(شعر) | ۲۹ |
| یو زړه او سل دردونه(د کډوالی کیسه) | ۳۰ |
| څرګندونې | ۳۲ |
| فاجعهٔ قاچاق انسانی و دستگیری هلال‌احمر افغانی | ۳۴ |
| شبی که زمین نعره کشید(داستان کوتاه) | ۳۶ |
| خدمات رضاکارانه، اهمیت، چالش‌ها و راه‌های بیرون رفت | ۳۸ |

## سریزه

# کډوالي او بشري مرستې

کډوالي په معاصرې نړۍ کې یوه پراخه بشري پدیده ده، چې د جګړو، سیاسي بې ثباتۍ، اقتصادي ستونزو، اقلیمي بدلونونو او طبیعي پېښو له امله رامنځته کېږي. هرکال میلیونونه خلک اړ کېږي، چې خپل اصلي ټاټوبي پرېږدي او د خوندي ژوند، کار او اساسي خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره نورو سیمو او هېوادونو ته کډه وکړي. دا بهیر نه یوازې د استوګنې بدلون دی، بلکې د ټولنیز، اقتصادي او رواني وضعیت پر ټولو اړخونو ژور اغېز لري.

افغانستان د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی، چې د اوږدمهالو جګړو او اقلیمي بدلونونو ننګونو له امله د کډوالۍ له پراخې ستونزې سره مخ دی. په تېرو لسیزو کې ګڼ شمېر افغانان اړ شوي، چې ګاونډیو او نورو هېوادونو ته کډه شي، چېرې چې دوی د کار، زده کړو، روغتیایي خدمتونو او قانوني ملاتړ له بېلابېلو ستونزو سره مخ کېږي. په ورته وخت کې، له بهرنیو هېوادونو څخه د افغان کډوالو بېرته ستنېدل هم د کورنیو ټولنو پر ظرفیتونو فشار زیاتوي او د بنسټیزو خدمتونو اړتیاوې پراخوي.

سربېره پردې، پرفرضي کرښې وخت نا وخت د جګړې او طبیعي پېښو له امله ګڼې کورنۍ له خپلو اصلي مېنو بې ځایه کېږي. داخلي بې ځایه شوي کسان اکثره له مناسبې سرپناه، کافي خوړو، پاکو اوبو او روغتیایي خدمتونو له کمښت سره مخ وي، چې دا وضعیت د هغوی د ژوند پر کیفیت او روغتیا منفي اغېز کوي.

د همدې بشري اړتیاوو د پوره کولو لپاره، افغاني سره میاشت د خپلو بشردوستانه اصولو پر بنسټ، د کډوالو، بېرته راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شویو کسانو د ملاتړ په برخه کې بېلابېل خدمتونه وړاندې کوي. دغه بنسټ د خوراکي توکو وېش، نغدي مرستې او د سرپناه برابرولو له لارې د ژوند لومړنۍ اړتیاوې پوره کوي او د روغتیا په برخه کې د ګرځنده ټیمونو، کلینیکونو او د مور او ماشوم د روغتیايي پروګرامونو له لارې اړینو خدمتونو ته لاسرسی برابروي. همدارنګه، د پاکو اوبو او حفظ الصحې پروګرامونه د ناروغیو د مخنیوي او د ژوند د شرایطو د ښه کېدو لپاره عملي کوي.

دغه هڅې د دې لپاره ترسره کېږي، چې کډوال او بې ځایه شوي کسان وکولای شي له شته ستونزو سره سره، خپل ژوند بېرته منظم او د ټولنې په چوکاټ کې خپل عادي حالت ته وروګرځوي.

د یادونې وړده، چې افغاني سرې میاشتې تردې مهاله شاوخوا(۲۱۱۰۰) داخلي بې ځایه شویو کورنیو او شاوخوا(۳۱۰) سیلاب ځپلو کورنیو ته نغدي، خوراکي او غیر خوراکي مرستې وېشلې دي، چې هرې کورنۍ ته(۳۰۰۰۰) زره افغانۍ ورکړل شوې او دا لړۍ لا هم روانه ده.

درنښت



ځانګړي خبرونه

## له کلونو ځنډ وروسته هندوستان هېواد ته(۱۵) تنه د سوري زړه ناروغان ولېږل شول

د ماشوم د زړه درزا د هرې کورنۍ لپاره د امید، خوښۍ او راتلونکي نښه ده. خو کله ناکله داسې هم پېښېږي چې یو ماشوم د ژوند له پیله له یوې سختې ناروغۍ سره مخ شي؛ داسې ناروغي چې د کورنۍ زړونه اندېښمن کړي او د ماشوم راتلونکی له ستونزو سره مخامخ کړي. د «سوري زړه» ناروغي هم له همدغو جدي ناروغیو څخه ده، چې که پروخت یې درملنه ونه شي، د ماشوم روغتیا او آن ژوند له خطر سره مخ کولای شي.

د افغاني سرې میاشتې د مشرتابه د پرله پسې هڅو په پایله کې، له کلونو ځنډ وروسته په درېیو پړاوونو کې (۱۵) تنه د سوري زړه ناروغان د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه د درملنې لپاره هند ته ولېږل شول.

دا هغه ناروغان وو چې په هېواد دننه یې درملنه شونې نه وه. د یادونې وړ ده چې د دغو ناروغانو د درملنې ټول لګښت د هند حکومت پر غاړه اخیستی، چې نه یوازې یې د ناروغو ماشومانو د ژوند د ژغورلو زمینه برابره کړې، بلکې د هغوی کورنیو ته یې نوې هیلې هم وربښلې دي. د دې بهیر چارې لا هم په بشپړه روښتیا او ژمنتیا سره روانې دي.

همدارنګه، د افغاني سرې میاشتې د دوامداره هڅو په لړ کې، په هېواد دننه د یوه عصري او پرمختللي روغتون د جوړېدو چارې هم په چټکۍ سره پرمخ روانې دي. تمه ده چې په نږدې راتلونکې کې به دغه روغتون پرانیستل شي. هلته به زړګونه ناروغان وکولای شي خپلې اړینې درملنې په خپل هېواد کې ترلاسه کړي، چې دا به د خلکو د روغتیا په برخه کې یو مهم او هیله بښونکی ګام وي.



## پکتیا کې د بې‌سرپرستو کورنیو لپاره د افغاني سرې میاشتې مرستون پرانستل شو

په ټولنه کې ډېرداسې کسان شته چې د جګړو، بېوزلۍ، طبیعي افتونو او اقتصادي ستونزو له امله د ژوند له سختو شرایطو سره مخ وي. په ځانګړي ډول بې‌سرپرستې کورنۍ هغه قشر دی چې د ژوند لومړنيو اړتیاوو ته د لاسرسي په برخه کې له جدي ننګونو سره مخ وي. د همدې ستونزو د کمولو او د دغو کورنیو د ملاتړ لپاره، مرستندویه اداري او خیریه بنسټونه مرستونونه جوړوي. مرستونونه هغه مرکزونه دي چې پکې بې‌سرپرستو او اړمنو کورنیو ته د اوسېدو مناسب چاپېریال، خوراکي توکي، روغتیایي خدمتونه او نورې اساسي اسانتیاوې برابرېږي.

په همدې لړکې، په پکتیا ولایت کې د سوبل ختیځ زون په کچه د افغاني سرې میاشتې له لوري د بې سرپرستو او اړمنو کورنیو د پالنې او ساتنې لپاره نوی جوړ شوی مرستون په رسمي توګه پرانیستل شو.

د مراسمو پرمهال، د افغاني سرې میاشتې عمومي رئیس، شیخ الحدیث شهاب الدین دلاوروویل: چې د دغه مرستون پرانیستل د سوبل ختیځ زون د بې‌سرپرستو او بې‌وزلو کورنیو د ملاتړ په برخه کې یو مهم او بنسټیز ګام دی. نوموړي ټینګار وکړ چې د بې‌سرپرستو کورنیو پالنه یوازې اداري دنده نه ده، بلکې یو انساني او اسلامي مسوولیت هم دی چې د ټولنې هرغړي باید ورته پاملرنه وکړي. هغه زیاته کړه چې د دغه مرستون په جوړېدو سره به ګڼ شمېر اړمنې کورنۍ وکولای شي په مناسب، خوندي او هوسا چاپېریال کې ژوند وکړي او د هغوی اساسي اړتیاوې به پوره شي.

ورپسې، د پکتیا مرستیال والي، شیخ الحدیث انعام الله صلاح الدین، هم خبرې وکړې. هغه د افغاني سرې میاشتې فعالیتونه وستایل او د مرستون پرانیستل بې د بې سرپرستو کورنیو د ملاتړ لپاره یو مهم او ارزښتناک ګام وباله.

د یادونې وړده، چې افغاني سره میاشت دا مهال د پکتیا تر څنګ په کابل، کندهار، هرات، بلخ، ننګرهار، پروان او کندز ولایتونو کې هم فعال مرستونونه لري.



# په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې د بشري مرستو اغېز

محمد جواد هاشمي

افغاني سره میاشت د افغانستان له هغو بنسټونو څخه ده، چې د انسانیت، خواخوږۍ او مرستې ښکلی پیغام له ځان سره لري. دا اداره د انسانانو د درد د درک کولو، د لاسنیوي او د هیلو د را ژوندي کولو سمبول ګڼل کېږي. د بې وزلو، ناروغانو او ناورین ځپلو خلکو لپاره د سرې میاشتې شتون د امید یو ځرک دی؛ داسې ځرک چې خلکو ته دا احساس ورکوي چې هغوی یوازې نه دي.

کله چې طبیعي پېښې رامنځته کېږي، کورنی خپل کورونه له لاسه ورکوي یا خلک د جګړو او ستونزو له امله له سختو حالاتو سره مخ کېږي، افغاني سره میاشت د مهربان زړه په څېر د هغوی تر څنګ درېږي. دا اداره هڅه کوي؛ څو د انسانانو ژوند وژغوري، د دردونو بار لږ کړي او خلکو ته د ژوند نوې هیله ورکړي.

په داسې یو هېواد کې چې کلونه یې د جګړو، طبیعي افتونو او اقتصادي ستونزو سختې ورځې لیدلې دي، د افغاني سرې میاشتې رول یوازې مرستې رسول نه دي؛ بلکې دا د انسانیت د ساتنې، د انساني کرامت د درناوي او د ټولنې د یووالي یو ښکلی مثال دی. د دې ادارې هڅې موږ ته دا را یادوي چې خواخوږي، مرسته او انسانیت هغه ارزښتونه دي، چې کولی شي د هر ډول ستونزو تر سیوري لاندې هم رڼا خپره کړي.

## د بشري مرستو ارزښتونه

بشري مرستې د انسان د کرامت، ژوند او اساسي حقونو د خوندیتوب لپاره ترسره کېږي. افغاني سره میاشت د نړیوال سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې د اوو اساسي اصولو پر بنسټ فعالیت کوي: بشرپالنه، ناپلوي، ناپیلتوب، خپلواکي، رضاکاري، یووالی او نړیوالتوب.

دغه اصول د دې سبب ګرځي، چې افغاني سره میاشت د خلکو تر منځ باور ترلاسه کړي او په بېړنیو حالاتو کې د باور وړ بنسټ وګرځي.

## د افغاني سرې میاشتې ټولنې اساسي موخې

۱. د طبیعي او بشـري ناورینونو پرمهال د ژغورنې او بېړنیو مرستو برابرول.

۲. روغتیایـــــــــي خدمتونه وړاندې کول او د ناروغیو د مخنیوي په برخه کې عامه پوهاوی.

۳. د بې‌وزلو، یتیمانو، کونډو، معیوبینو او بې ځایه شـویو کورنیو ملاتړ.





۴. د رضاکارۍ د فرهنګ پراختیا او د ځوانانو هڅول.

۵. د ټولنـې مقاومت لوړول؛ څو خلک د راتلونکو ناورینونو پروړاندې چمتو وي.

دغه موخې نه یوازې د لنډمهاله مرســــتو لپاره دي، بلکې اوږدمهاله ټولنیز ثبات او پرمختګ ته هم لار هواروي.

## پر افغاني ټولنه د بشري مرستو اغېز

۱. د ژوند ژغورنه او د کړاو کمول

په افغانســتان کې زلزلو، سېلابونو، واورو، وچکالیو او نورو طبیعي افتونو زرګونه کورنـۍ زیانمنـې کـړې دي. افغانـي سـره میاشـت د بېړنیو مرسـتو لکه: خوراکي توکو، درملو، کمــپلو، خــېمو او پاکو اوبو د وېش له لارې د خلکو ژوند ژغوري. دا مرســتې د ناورین پرمهال د خلکو درد کموي او هغوی ته د بیا ولاړېدو فرصت ورکوي.



۲. د روغتیایي وضعیت ښه‌والی

افغاني سره میاشت د ګرځنده کلینیکونو، واکســـــین کمپاینونو او روغتیایي روزنیزو پروګرامونو له لارې د عامې روغتیا په برخه کې مهم رول لري. په لرې پرتو سیمو کې چې دولتي خدمتونه محدود وي، د سـرې میاشــتې روغتیایي ټیمونه د خلکو لپاره یوازینــی هیله ګـرځــي. د دې اداري روغتیایي فعالیتونه د مور او ماشوم مړینه راکموي، ساري ناروغۍ کنټرولوي او د حفظ الصحې دود پیاوړی کوي.

۳. ټولنیز یووالی او باور

کله چې مرستې په ناپلوه او عادلانه توګه وېشـــل کېږي، د ټولنې د بېلابېلو قشرونو ترمنځ باور رامنځته کېږي. افغاني ســره میاشـــت پرته له قومي، ژبني یا مذهبي توپیر څخه خدمت کوي، چې دا کار د ملي یووالي په ټینګښـت کې مهم رول لري.

۴. اقتصادي او ټولنیز ثبات

که څه هم بشــري مرستې لنډمهاله ملاتړ وي؛ خو د کورنیو لپاره د بیارغونې زمینه برابروي. کله چې یوه کورنـۍ له لوږې او بې‌ســرپناهۍ وژغورل شــي، کولای شـــي بېرته د کار او تولید پر لور حرکت وکړي. په دې توګه مرستې د اقتصــادي سقوط مخه نیسي او ټولنیز ثبات ته وده ورکوي.

۵. د رضاکارۍ د فرهنګ پیاوړتیا

افغاني سره میاشت د هېواد په کچه زرګونه رضاکاران لري، چې ډېری یې ځوانان دي. دا رضاکاران د ناورین پر مهال د ژغورنې، عامه پوهاوي او مرستو په وېش کې برخه اخلي. دغه بهیر د ځوان نسل په منځ کې د مسوولیت احساس، همدردي او انساني ارزښتونه پیاوړي کوي.



## نړیوال اغېز او د افغانستان ونډه

افغاني سره میاشت د نړیوال فدراسیون غړې ده او له نورو هېوادونو سره همکاري لري. د ناورینونو پر مهال نړیوالې مرستې افغانستان ته رارسېږي او په مقابل کې افغانستان هم د نړیوال بشري نظام برخه پاتې کېږي.

په نړیواله کچه، بشري مرستې د سولې او همغږۍ وسیله ده. کله چې ملتونه د یو بل لاسنیوی کوي، سیاسي واټنونه کمېږي او انساني ارزښتونه پیاوړي کېږي. افغاني سره میاشت د همدې نړیوالې همپالنې یوه برخه ده.

## اوږدمهاله اغېزې او پایدار پرمختګ

د افغاني سرې میاشتې فعالیتونه یوازې بېړنیو حالاتو پورې محدود نه دي. د خطر کمولو پروګرامونه، د لومړنیو مرستو روزنه، د اقلیمي بدلون په اړه پوهاوی او د ټولنې د چمتووالي پروګرامونه د دې لامل کېږي؛ څو خلک د راتلوونکو افتونو پر وړاندې پیاوړي شي.

دغه ډول فعالیتونه د تلپاتې پرمختګ له موخو سره همغږي لري، ځکه چې د انساني ژوند خوندیتوب، روغتیا، تعلیم او ټولنیز ثبات د پرمختګ اساسي شرطونه دي.





## پایله

په پای کې ویلای شو، چې د افغاني سرې میاشتې بشري مرستې د افغانستان د ټولنې لپاره حیاتي ارزښت لري. دا مرستې د ژوند ژغورنې، د انساني کرامت ساتنې، د ټولنیز یووالي پیاوړتیا او اقتصادي ثبات سبب ګرځي. همدارنګه، په نړیواله کچه د بشري همکارۍ او سولې په ټینګښت کې مهم رول لوبوي.

افغاني سره میاشت د انسانیت یو روښانه سمبول دی، چې اغېزې یې یوازې د مرستې پر مهال نه محدودېږي، بلکې د ټولنې په راتلونکې، باور او ثبات کې ژوره ونډه لري. د دې اداري پیاوړتیا د یوې با ثباته، همغږې او انسان محوره ټولنې د جوړولو لپاره بنسټیز اهمیت لري.




# په افغانستان کې د اوبو ستونزو په حل کې د افغاني سـرې میاشـتې ونډه

پوهاند عبدالغیاث صافی د کابل پوهنتون د ځمکپوهنې پوهنځي د هایدرومتیورولوژي څانګې استاد

لومړی برخه

## لنډیز

اوبه د ژوندیو موجوداتو د ژوند او پایښـت لپاره ستره اړتیا ده او د اوبو کمښـت او زیانمن کېدل د ژوندیو موجوداتو ژوند له سترو ګواښـونو سره مخامخ کوي. په تېرو څو لسیزو کې په افغانستان او په تېره بیا لویو ښارونو کې اقلیمي بدلونونو او د نفوس چټکې ودې له امله د پاکو اوبو زېرمې د کمښت او آن په ځینو سیمو کې له منځه تلو سره مخامخ کړي دي. په دې لیکنه کې د افغانستـان اوبو زېرمو ته لنډه کتنه شـوې، پر اوبو د اقلیمي بدلونونو په تېره بیا د هوا تودوخې درجې او اورښـت اړوند څو کلن معلومات راټول او ترارزونې لاندې نیول شوي دي. د لیکنې په پای کې د اقلیمي بدلونونو څخه رامنځته شـوې ستونزو، زیانونو او د افغاني سرې میاشتې پروندې ټینګار شوی او د حل لارو لپاره یې اړین وړاندیزونه شوي دي.

**کلیدي کلیمې:** اقلیم؛ اقلیمي بدلون؛ اقلیمي عناصـر؛ تودوخه؛ اورښت؛ افغاني سره میاشت؛ اوبیزې حوزې.

## سریزه

د تېرو څو لسـیزو راهیسـې په نړۍ کې پرلپسـې اقلیمي بدلون د دې لامل شوی دی، چې د اوبو کمښـت او ککړتیا ستونزه په نړۍ کې ځان ته یوه پېچلې بڼه خپله کړي. د اوبو کمښـت د نړۍ په ځینو پراخه سیمو او په تېره بیا لویو ښـارونو کې جلا جلا ستونزې رامنځته کړې دي، ځکه اوبه د کرنیزو محصـولاتو، مالدارۍ، پاکوالي، روغتیا، صنایعو، برېښـنا بندونو، شنو کمربندونو، د استوګنې چاپېریال او نورو ډېرو برخو لپاره ځانګړې ارزښت لري او د اوبو کمښت د بېلابېلو چاپېریالي سـتونزو د رامنځته کېدو لامل ګرځي. د اوبو کمښـت د ژوند ټولې چارې له ستونزو سره مخامخ کوي او آن د اوبو په نه شـتون کې د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند له ګواښ سـره مخامخ کېږي او خلک نورو سـیمو کډوالۍ ته اړکېږي. دا چې د افغانسـتان (۷۵) سلنه خلک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي؛ نو د اوبو کمښـت د هېواد د زیاترو خلکو لپاره ډېره لویه ستونزه ده. په تېره بیا د اوبو د

کمښت د افغانستان په زیاتره لویو ښارونو لکه: کابل، بلخ، کندز، فاریاب، هرات، فراه، کندهار، غزني، خوست، ننګرهار او نورو کې ډېري ستونزې رامنځته کړې دي. همدغه راز وچکالیو، نامنظمو اورښتونو، سېلابونو او په ټولیزه توګه اقلیمي بدلون دا ستونزه لا پسې پیاوړې کړې او په پایله کې یې په هېواد کې په لسګونو زره تنه وګړي هر کال هغه سیمو ته کډوال کېږي، چېرې چې اوبه شتون لري. د افغانستان په ډېرو ولایتونو کې د پرلپسې اقلیمي بدلون د اغېزو له امله د کرنیزه حاصلاتو په کمیت او کیفیت کې هم په پرلپسې توګه د پام وړ کمښت او بدلون رامنځته شوی او له امله یې د افغانستان په ډېرو سیمو کې بزګران او بڼوال زیانمن شوي دي. همدغه راز د اورښتونو د کمښت او بې نظمیو له امله په ټول افغانستان او په تېره بیا د لویو ښارونو په شاوخوا سیمو کې د ځمکې سطحي تخریب رامنځته شوی او په ډېرو سیمو کې استوګنځایونو، کرنیزو ځمکو، ټولګټو پروژو او مالداری ته خورا ډېر تاوانونه رسیدلي او په ډېرو سیمو کې دښتي کېدو ته چارې برابرې شوي دي. بې وخته او بې نظمه بارانونو او ډول ډول اورښتونو په ډېرو کلیو، بانډو او ولایتونو کې د لنډمهاله لویو سېلابونو د رامنځته کېدو لامل شوي او په ترڅ کې یې د ګڼ شمېر خلکو ژوند له ګواښونو، ننګونو او تاوانونو سره مخ شوی دي. د یادو ستونزو په کمښت کې د ټولو خلکو او ادارو او په تېره بیا د افغاني سرې میاشتې ونډه د یادونې وړده.

### د څېړنې ارزښت

دا چې په هېواد کې د نفوسو کچه په پرلپسې توګه د لوړېدو په حال کې ده او له امله یې پر اوبیزو زیرمو باندې فشار زیاتېږي، له بده مرغه د نړیوالو اقلیمي بدلونونو له امله د هېواد په سیندونو کې د اوبو کچه په عمومي توګه د کمښت په حال کې ده؛ نو ځکه دا څېړنه د افغانستان د اوبیزو زېرمو مدیریت او ټولو خلکو لپاره ځانګړی ارزښت لري.

### د څېړنې موخه

د دې څیړنې اصلي موخه د اقلیمي بدلونونو په رڼا کې د هېواد د اوبیزو زېرمو ارزونه ده؛ څو له مخې یې د اوبیزو زېرمو کارولو کې خلک او اداري خپله ملي او اسلامي دنده ترسره کړي.

### د څېړنې پوښتنه

نړیوال اقلیمي بدلونونه د افغانستان پر اوبیزو زېرمو باندې څه ډول اغېزه لري؟

### د څېړنې توکې او کړنلاره

هره علمي څېړنه اړونده معلوماتو او د څېړنې میتود ته اړتیا لري. په دې څېړنه کې د اقلیمي عناصرو د څو کلنو معلوماتو له مخې بېلابېل ګرافونه جوړ شوي دي، چې د تېرو څو لسیزو په اوږدوکې د اقلیمي عناصرو بدلونونه په ګوته کوي. د دې څېړنې معلومات زیاتره د اوبو او انرژۍ وزارت، افغاني سرې میاشتې اداري، د هوا پوهنې ملي



اداري او انټرنټي سایټونو څخه ترلاسه شوي او له مخې یې جدولونه او ګرافونه ترتیب او له ګرافونو څخه ځانګړې پایلې او وړاندیزونه ترلاسه شوي دي. دا څېړنه چې د څو لسیزو اقلیمي منځنیو معلوماتو په مټ ترسره شوې ده، زیاتره کتابخانه‌ای بڼه لري. همدغه راز په دې څیړنه کې د ځینو احصاییوي او ګرافیکي میتودونو څخه هم کار اخیستل شوی، چې د څېړنې پایلې یې لا پسې باوري کړې دي.

**د موضوع مخینه**

د یوې اوږدې مودې(۳۰-۴۰ کلونو) په ترڅ کې د هوا حالت منځنی کچې ته اقلیم ویل کېږي او د اقلیمي عناصرو په مرسته ښودل کېږي. په عمومي توګه اقلیمي عناصر د هوا فشار، د هوا تودوخې، لنده‌بل، وريځو، اورښت او باد څخه عبارت دی. په منځنی توګه د یادو عناصرو په منځنی کچه کې بدلون ته اقلیمي بدلون ویل کېږي. دا چې اوبه د الله(جل جلاله) یو لوی نعمت او د هغې پرته ژوند کول خورا ستونزمن دي؛ نو ځکه په دې لیکنه کې په افغانستان کې د اوبو پرزېرمو د اقلیمي بدلون اغېزې تر مطالعې لاندې نیول شوې دي. د اقلیمي بدلون تر عنوان لاندې په نړۍ کې خورا ډېرې څېړنې ترسره شوې دي. همدغه راز په افغانستان کې هم د ځینو څېړونکو او پوهانو لکه محمد داود شیرزاد(۱۴۰۲) د لوګر ولایت پر سطحي اوبو باندې د اقلیمي بدلون د اغېزو ارزونه، محترم عبدالغیاث صافی(۱۳۹۷) اتموسفیر او اوزون، محترم صدیق الله رشتین(۱۳۹۷) رژیم بارندګی ستیشن جلال‌آباد، محترم هدایت‌الله آرین(۱۳۹۷) پارمافراست و تاثیرات تغییر اقلیم، محترمه نسرین فقیری(۱۳۹۸) خشکسالی و مدیریت آن، محترم عبدالغیاث صافی(۱۳۸۸) د افغانستان هوا او سیلانیان او نورو څېړونکو خیلې مطالعې ترسره کړې دي؛ خو تر دې دمه" په افغانستان کې د اوبو کمښت ستونزو په حل کې د افغاني سرې میاشتې ونډې ارزونه" تر سرلیک لاندې کومه ځانګړې څېړنه نه ده ترسره شوې. د موضوع ارزښت ته په پاملرنې دا موضوع نورو ډېرو هراړخیزو څېړنو ته اړتیا لري. باور لرم چې پوهان به په راتلونکي کې د افغانستان اوبو په هکله هراړخېزې څېړنې ترسره او له دې لارې به ډېرو پوښتنو لپاره ځوابونه برابر شي.

۱- د افغانستان جغرافیایي موقعیت

افغانستان یوه غرنی جغرافیه ده، چې نږدې(۷۵) سلنه ځمکه یې د هندوکش غرونو بېلابېلو دنګو لړیو لاندې کړې او د موقعیت له مخې د شمالي عرض البلدونو د(۲۹) درجو،(۲۲) دقیقو،(۵۲) ثانیو او(۳۸) درجو،(۴۰) دقیقو تر منځ او همدغه راز د ختیځو طول البدونو د(۶۰) درجو،(۲۸) دقیقو،(۴۱) ثانیو او(۷۴) درجو،(۵۱) دقیقو،(۴۷) ثانیو ترمنځ پروت دی. افغانستان د لویدیځ پلوه له ایران سره د(۹۳۶) کیلومترو په اوږدوالي، له ختیځ پلوه له چین سره د(۹۶) کیلومترو په اوږدوالي، له شمال لویدیځ پلوه له ترکمنستان سره د(۷۴۴) کیلومترو په اوږدوالي، له شمال پلوه د ازبکستان سره د(۱۳۷) کیلومترو په اوږدوالي، له شمال ختیځ پلوه د تاجکستان سره د(۱۲۰۶) کیلومترو په اوږوالی او د جنوب پلوه د(۲۳۱۰) کیلومترو په اوږدوالی د پښتونستان او بلوچستان سره ګډه پوله لري. افغانستان د(۶۵۲۲۲۵) کیلومتره مربع پراختیا په درلودلو سره له روسیې پرته له هر اروپایي هېواد څخه لوی دی. همدغه راز د پراختیا له پلوه په آسیا لویه وچه کې له چین، هند، سعودی عربستان، ایران، منګولیا، اندونیزیا، پاکستان، ترکیه او برما څخه وروسته لسم ځای لري.

۲- د افغانستان اقلیم

د یوې جغرافیایي سیمې اقلیم د هغه سیمې د څو کلنو(۳۰-۴۰کاله) متیورولوژیکي عناصرو له منځنی کچې څخه عبارت دی. افغانستان د جغرافیایي موقعیت له مخې د لوړ فشار په توده معتدله تحت استوایي کمربند سیمه کې د ایران دښتي سیمو، عربستان دښتو، افریقا لوېې دښتې، کلفورنیا دښتې، مکسیکو دښتې او نورو دښتي سیمو په امتداد موقعیت لري او د دغه ډول سیمې زیاتره وچ دښتي اقلیم لري. په یادو اقلیمي سیمو کې د شپې او ورځې او همدغه راز د اوړي او ژمي په اوږدو کې د هوا تودوخې درجه کې ډېر توپیر لیدل کېږي او د اورښت او لنده‌بل منځنی کچه یې خورا ډېره ټيټه وي؛ خو په افغانستان کې د بېلابېلو غرنیو لړیو شتون د اقلیم یاد حالت ته بدلون ورکړی او افغانستان یې د ډول ډول

اقلیمونو درلودونکی کرځولی دی. په عمومي توګه د افغانستان اقلیم د هوا تودوخې، فشار، لنده بل، اورښت او بادونو ځرنګوالي له مخې په لاندې ډولونو ویشل کېږي (عارض، ۱۳۸۶):

۱. دښتي یا صحرایي اقلیم، دا ډول اقلیم زیاتره د هېواد په جنوب لویدیځو سیمو لکه ګرشک، بکوا دښته، مارکو دښته، خاشرود دښته او سیستان سیمو کې ترسترګو کېږي. په دغه ډول سیمو کې د هوا منځنۍ کلنۍ تودوخه د سانتي ګرید (۱۷-۲۰) درجې او د هوا تودوخې درجې تو پیر د شپې او ورځې په اوږدو کې تر (۳۵) درجو رسیږي، د اورښت منځنۍ کلنۍ کچه زیاتره د (۸۸) ملي مترو په شاوخوا کې وي او په کال کې د باراني ورځو شمېر زیاتره له (۲۲-۲۳) ورځو نه پورته کېږي او هغه هم زیاتره د پسرلي په لومړیو او ژمي موسم کې ترسترګو کېږي. په عمومي توګه د دښتي اقلیم په سیمو کې د واوري اورښت نه ترسترګو کېږي.

۲. ستیپ اقلیم، دا ډول اقلیمي سیمې زیاتره د کندهار، چمن، هرات او د هېواد شمالي دښتي سیمو کې لیدل کېږي او د سمندر له سطحې څخه د (۱۰۰۰-۲۵۰۰) مترو په لوړوالي کې موقعیت لري. دا ډول اقلیم زیاتره د دښتي اقلیم لرونکو سیمو په شاوخوا کې ترسترګو کېږي. دا ډول اقلیمي سیمې زیاتره بری هوا لري او د شپې او ورځې په اوږدو کې د هوا تودوخې درجې بدلونونه د سانتي ګرید له (۲۰) درجو نه لوړیږي؛ خو د کال په اوږدو کې دغه بدلونونه د سانتي ګرید (۳۰-۵۰) درجو ته لوړیږي. اورښت زیاتره د ژمي په فصل کې وي او کچه یې په کال کې تر (۲۵۰-۳۰۰) ملي مترو رسېږي او د حیواناتو د روزنې لپاره مناسبې سیمې بلل کېږي.


۳. مدیترانه یي اقلیم، دا ډول اقلیم زیاتره د هېواد په ختیځو سیمو لکه ننګرهار، کونړ او لغمان کې ترسترګو کېږي، اوړی یې ډېر تود او وچ وي. اورښت زیاتره د ژمي په فصل کې وي او په اوړي کې د هوا تودوخې منځنۍ کچه د سانتي ګرید له (۲۲) درجو لوړه وي او د اورښت کچه د کال په اوږدو په تېره بیا د ژمي په فصل کې تر (۲۵) ملي مترو لوړه وي او تر (۳۵-۴۰) ملي مترو رسېږي. د جلال آباد هوا پوهنې ستېشن د لس کلنو معلوماتو له ارزونې څخه ځرګندېږي، چې په دې ښارکې د اورښت کلنۍ کچه د (۱۴۷-۳۹۰) ملي مترو پورې بدلون کوي او زیاتره د باران په شکل وي. د مدیترانه یي اقلیم په سیمو کې د ستروس کورنۍ نباتات لکه نارنج، مالټه، کینو، لیمو، سنتره او نورښه وده کوي.

۴. مونسون اقلیم، دا ډول اقلیم زیاتره د هېواد په جنوب ختیځو سیمو کې ترسترګو کېږي. د مونسون اقلیم ځانګړتیاوې دا دي چې د اوړي د سایکلونونه د هېواد په جنوب ختیځو سیمو کې ډېر اورښتونه رامنځته کوي او بیا وروسته وچ فصل وي. د ټیټ فشار دغه ډول مرکزونه چې سایکلونونه نومېږي، په هند سمندر کې رامنځته کېږي او بیا د شمال او شمال ختیځ پر لوري حرکت کوي او په ترتیب سره د هندوستان، بنګله دېش، پاکستان او د افغانستان جنوب ختیځو لکه: خوست، ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتو په ځینو سیمو کې د جړی ډوله بارانونو او سېلابونو د رامنځته کیدو لامل کېږي. په یادو سیمو کې د اوړي په موسم کې د لنده بل کچه ډېری وخت (۸۰.۹۹) سلنه وي او د اورښت منځنۍ کچه په کال کې (۴۶۰-۶۸۰) ملي مترو ته رسېږي.



۵. الپاین تندرا اقلیم، دا ډول اقلیمي سیمې زیاتره د هېواد په هغه سیمو کې ترسترګو کېږي، چې لوړوالي یې د سمندر له سطحې څخه له(۲۵۰۰-۳۰۰۰) مترو پورې وي او هوا یې په ژمي کې خورا سړه او اوړی یې معتدل وي. په افغانستان کې د ناور لوړې برخې، د بامیان ولایت زیاتره سیمې، د غزني سراب، د بابا غر، سپین غر او تور غر لوړې پرتې لمنې د الپاین تندرا اقلیمي سیمو غوره بېلګې دي. د دې ډول اقلیمي سیمو نباتات زیاتره واښه ډوله او یا لنډې ونې لري او په ژمي کې تر واورو لاندې پټېږي.

۶. د غرنیو او لوړو سیمو اقلیم، د دې ډول اقلیم لرونکې سیمې په افغانستان کې د سمندر له سطحې څخه له(۳۰۰۰) مترو څخه پورته موقعیت لري. په دې ډول سیمو کې د هوا تودوخه ډېره سړه او د لنده بل او ورښت کچه لوړېږي، د غرونو هغه لمنې چې د لمرورانګو ته مخامخ موقعیت لري څه ناڅه معتدله هوا لري؛ خو هغه غرنۍ لمنې چې له لمرورانګو څخه پناه وي، خورا سړې سیمې بلل کېږي. په دې ډول اقلیمي سیمو کې اورښتونه د واورو په بڼه د ځمکې سطحې ته رارسېږي.




اول-شکل، د کوپن د ویش له مخې د افغانستان اقلیم

( https://en.wikipedia.org/wiki/Geography_of_Afghanistan#/media



# په ښوونيز ډګرکې د افغاني سرې مياشتې فعاليتونه

کله چې د انســـان د راتلونکي، هيلو او برياوو په اړه فکر کوو، ذهن مو بې له شکه د ښوونځي پر لور ځي. ښوونځی هغه ځای دی چې هلته د ماشــومانو خوبونه ورو ورو بڼه اخلي، فکرونه يې وده کوي او د ژوند د لارې لومړنی رڼاګانې پکې بليږي. د يوه ماشوم لپاره د ښــوونځي دروازه يوازې د درس دروازه نه ده، بلکې د اميد، پوهې او روښانه راتلونکي لورته د تګ پيل دی. دلته ماشــومان د کتاب له نړۍ ســره اشـنا کېږي، د ښـوونکو له لارښــوونو الهام اخلي او له خپلو ملګرو سره د همکارۍ، درناوي او انســانيت ارزښتونه زده کوي. ښوونځی د انسان د شخصيت د جوړېدو يو مهربان او روزنيز چاپېريال دی، چې د ټولنې د سبا مشــران، پوهان او خدمتګاران پکې روزل کېږي. له همدې امله، د ښوونځي ارزښت يوازې په درسونو کې نه دی نغښــتی، بلکې په هغو هيلو او شخصـيتونو کې ځرګندېږي چې د همدې ديوالونو ترمنځ وده کوي.

ښوونځی د انسـان د ژوند له بنسـټيزو او مهمو بنســټونو څخه ګڼل کېږي. دا يو علمي او روزنيز مرکـز دی، چېرته چې ماشــومان او ځوانان د پوهې، اخلاقو او ټولنيزو ارزښــتونو زده‌کړه کوي. ښوونځی يوازې د لوست او ليک ځای نه دی، بلکې د شخصـــــيت د جوړېدو، د فکر ودې او د ټولنې د پرمختګ بنســټ هم دی. هره ټولنه چې تعليم ته ارزښت ورکوي، د پرمختګ، ثبات او ســـوکالۍ پر لور چټک ګامونه اخلي.

د ښوونځي له مهمو ارزښتونو څخه يو د انسان د شخصيت جوړونه ده. په ښـــــوونځي کې زده‌کوونکي د ښـــــوونکو تر لارښوونې لاندې د نظم، مســؤوليت، زغم، همکارۍ، درناوي او صداقت ارزښتونه زده کوي. همدا اخلاقي بنســټونه د دې لامل کېـږي چـې زده‌کوونکـي په راتلونکـي کــې د ټولنــې مسؤول، بااخلاقه او ګټور غړي شي. که يو انسـان يوازې علم ولري، خو ښه اخلاق ونه لري، نو د ټولنې لپاره بشــپړ ګټور نه شـــي کېدای. له همدې امله، ښـــــوونځی د علم ترڅنګ د اخلاقو روزنه هم ترســره کوي. ډاکټران، انجنيران، ښــوونکي، اقتصـادپوهان او نور مســلکي کســان خپل تعليمي سفر له همدې ځايه پيلوي. که ښــوونځی پياوړی وي، ټولنه به هم د علم او پرمختګ په ډګرکې مخکښــه وي. تعليم انسـان ته دا توان هم ورکوي چې خپل حق وپېژني او د ټولنې په پرمختګ کې فعاله ونډه واخلي.

د ښـوونځي ارزښـت يوازې په درسـي کتابونو پورې محدود نه دی، بلکې د انسـان د بريالي ژوند، د ټولنې د پرمختګ او د راتلونکي نســــــل د هوساينې لپاره حياتي رول لري. له همدې امله، اړينه ده چې هـر فـرد، کورنـۍ او ټولنه د تعليم ارزښـــت درک کړي او د زده کړو د پياوړتيا لپاره هڅې وکړي، څو راتلونکی نسل د علم او پرمختګ پر لور رهبري شي.

افغاني ســرې مياشــتې هم د ښــوونځي د ارزښــت په درک کولو ســـره په دې برخه کې د پام وړ هڅې کړې دي. د يوه بشـــري او خيريه بنســـټ په توګه يې تل هڅه کړې چې د بې‌وزلو، يتيمو او بې‌ســـرپرســـته ماشـــومانو د ژوند د ښه‌والي لپاره لازمې اسانتياوې برابرې کړي. په همدې

موخه يې د تعليم ملاتړ ته ځانګړې پاملرنه کړې او د ښوونيز چاپېريال د ښه والي او د زده کوونکو د ملاتړ په برخه کې يې عملي ګامونه پورته کړي دي، چې له هغې جملې يوه د افغاني سرې مياشتې ټولنې «مشعل بيات عالي ليسه» ده:

**د افغاني سرې مياشتې مشعل بيات عالي ليسه**

د مشعل بيات عالي ليسه په (۱۳۸۵ هـ ش) کال کې په ابتدايي کچه تأسيس شوه. د دې ليسې د جوړېدو اصلي موخه دا وه چې د کابل د مرکزي مرستون تر پوښښ لاندې بې وزلو او يتيمو ماشومانو ته د زده کړو زمينه برابره کړي. دغه ليسه د کابل ولايت د پنځمې حوزې اړوند د افشارو په سيمه کې، د افغاني سرې مياشتې مرکزي دفتر ته څېرمه موقعيت لري. دغې تعليمي اداري په (۱۳۸۹ هـ ش) کال کې لومړی له ابتدايي کچې څخه منځنۍ او بيا په همدې کال د عالي ليسې کچې ته ارتقا وکړه.

په دې ليسه کې د پوهنې وزارت د رسمي نصاب تر څنګ ځينې تقويتي مضامين هم تدريس کېږي. د تدريس بهير وخت پر وخت د افغاني سرې مياشتې او د پوهنې وزارت د علمي او تخنيکي غړو له لوري ارزول کېږي. د زده کوونکو د علمي کچې د لوړولو لپاره، ليسه په معياري کمپيوټر لېب ، مجهز کتابتون او په عصري لابراتوار سمبال ده. د تدريس چارې د مجربو او مسلکي ښوونکو له لوري پر مخ وړل کېږي، چې ډېری يې د ليسانس او ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې لري.

په دې تعليمي بنسټ کې، د مرستون د يتيمو او بې سرپرسته زده کوونکو تر څنګ، د ټولنې د بېلابېلو قشرونو زده کوونکي هم په زده کړو بوخت دي. زده کوونکو ته کتابونه، قرطاسيه او نور درسي توکي د افغاني سرې مياشتې او د پوهنې وزارت له لوري په وړيا ډول وېشل کېږي. تر دې مهاله، ليسې (۱۴) دورې فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي. د دې ليسې ګڼ شمېر فارغان د هېواد په بېلابېلو پوهنتونونو کې د طب، انجنيرۍ، کمپيوټر ساينس، اقتصاد او نورو څانګو ته بريالي شوي او يو شمېر يې لا هم خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکوي.

اوس مهال، په دې ليسه کې له لومړي تر شپږم ټولګي پورې نجونې او له لومړي تر دولسم ټولګي پورې هلکان په جلا جلا ټولګيو کې زده کړې کوي. د زده کوونکو د روغتيايي اړتياوو د پوره کولو لپاره، د صحي کمېټې له لوري معياري روغتيايي خدمتونه وړاندې کېږي. سربېره پر دې، د اړوندو کمېټو له لوري زده کوونکو ته د رواني، ټولنيزو او نورو برخو په اړه مشورتي او معلوماتي پروګرامونه هم ترسره کېږي. د بې وزلو کورنيو ماشومانو لپاره په اقتصادي او نورو برخو کې بېلابېلې اسانتياوې هم برابرې شوې دي.

همدارنګه، د غوره فعاليتونو له امله، دې ليسې په (۱۴۴۶ هـ ق) کال کې د عمومي مديريت له کچې څخه د آمريت مقام ته ارتقا وکړه. دا مهال، د الله په فضل، ليسه معياري ودانۍ لري او هر کال د اړتياوو له مخې ورته مناسبه بوديجه ځانګړې کېږي. د ليسې اداره پلان لري چې په راتلونکي کې دا تعليمي بنسټ د عصري ټکنالوژۍ له نوښتونو سره لا زيات سمبال کړي او تعليمي پروګرامونه نور هم پراخ کړي.

سربېره پر دې، افغاني سره مياشت د هېواد په (۳۴) ولايتونو کې د ځوانانو د کلوپونو (ښوونيزو مرکزونو) او تعليمي پروګرامونو له لارې زرګونو زده کوونکو ته د زده کړو او علمي پوهاوي زمينه برابره کړې ده. په دغو کلوپونو کې، د زده کړو تر څنګ د روغتيا، بشري ارزښتونو، ټولنيزو مهارتونو او رضاکارۍ په برخو کې هم روزنيزې برنامې وړاندې کېږي. دا پروګرامونه لا هم په فعاله توګه روان دي او هر کال ګڼ شمېر زده کوونکي ترې ګټه اخلي.

د افغاني سرې مياشتې دا هڅې د دې لامل شوې دي چې ډېر ماشومان او ځوانان د تعليم له نعمت څخه برخمن شي او د خپل راتلونکي د جوړولو لپاره لازم فرصتونه ومومي. دا ډول فعاليتونه نه يوازې د زده کوونکو د علمي ودې لپاره مهم دي، بلکې د ټولنې د پرمختګ، پوهاوي او هوساينې لپاره هم ارزښتناک رول لري.



# د افغانستان په(۳۴) ولایتونو کې د نارینه او ښځینه زده کوونکو کره شمیر

## 13,485+

تولټال

تنه زده کوونکو ته د زده کړو زمینه برابره شوې ده

| ګڼه | ولایت | نارینه زده کوونکي | ښځینه زده کوونکي |
|---|---|---|---|
| 1 | کابل | 1,297 | 1,035 |
| 2 | پروان | 430 | 125 |
| 3 | دایکندی | 264 | 151 |
| 4 | کاپیسا | 180 | 170 |
| 5 | پنجشیر | 70 | 47 |
| 6 | بامیان | 232 | 130 |
| 7 | بلخ | 69 | 42 |
| 8 | جوزجان | 211 | 97 |
| 9 | سرپل | 216 | 223 |
| 10 | فاریاب | 571 | 250 |
| 11 | سمنګان | 151 | 135 |
| 12 | کندز | 250 | 97 |
| 13 | تخار | 221 | 200 |
| 14 | بدخشان | 150 | 125 |
| 15 | بغلان | 101 | 132 |
| 16 | ننګرهار | 172 | 92 |
| 17 | کنړ | 230 | 150 |
| 18 | لغمان | 200 | 100 |
| 19 | نورستان | 140 | 160 |
| 20 | هرات | 250 | 508 |
| 21 | بادغیس | 283 | 296 |
| 22 | غور | 487 | 270 |
| 23 | نیمروز | 160 | 181 |
| 24 | فراه | 27 | 25 |
| 25 | پکتیا | 300 | 0 |
| 26 | غزنی | 201 | 45 |
| 27 | لوګر | 80 | 70 |
| 28 | میدان وردګ | 214 | 86 |
| 29 | خوست | 88 | 35 |
| 30 | پکتیکا | 130 | 0 |
| 31 | کندهار | 270 | 0 |
| 32 | زابل | 168 | 0 |
| 33 | اروزګان | 120 | 0 |
| 34 | هلمند | 575 | 0 |
| | مجموعه | 8,508 | 4,977 |

# د مرکزي روغتون لخوا ترسره شوي خدمتونه

| داخله | عقلي عصبي | عمومي جراحي | ارتوپيدي | نسايي ولادي | د ماشومانو داخله |
|---|---|---|---|---|---|
| 8,911 تنه | 1,550 تنه | 1,241 تنه | 1,559 تنه | 3,581 تنه | 7,226 تنه |


| غاښونه | عاجل | لابراتوار | التراسوند | اکسرې |
|---|---|---|---|---|
| 1,476 تنه | 1,290 تنه | 4,403 تنه | 1,798 تنه | 1,617 تنه |



# راستنېدونکو کډوالو ته ترسره شوي خدمتونه

ټولټال **21,745+** کډوالو کورنیو ته

نغدي، خوراکي او غیرخوراکي توکو مرسته وېشل شوې ده.





# حوادث طبیعی از پیشگیری تا کمک‌های اولیه

در سرزمینی مانند افغانستان که طبیعت گاهی با چهره‌ای آرام و گاهی با چهره‌ای خشن ظاهر می‌شود، زندگی مردم همواره با آزمون‌های دشوار همراه بوده است. بسیاری از خانواده‌ها در لحظه‌ای کوتاه با سیلاب، زلزله یا برف‌کوچ روبه‌رو می‌شوند و گاهی همه داشته‌های خود را از دست می‌دهند. در چنین لحظاتی، آگاهی، آمادگی و کمک‌های اولیه می‌تواند مرزی میان نجات و فاجعه باشد. به هر اندازه که مردم درباره پیشگیری از حوادث طبیعی و شیوه‌های درست برخورد با آن بیشتر بدانند، به همان اندازه می‌توانند از جان خود، خانواده و جامعه‌شان بهتر محافظت کنند. از همین رو آشنایی با راه‌های پیشگیری و اصول کمک‌های اولیه نه تنها یک دانش ساده، بلکه گامی مهم برای حفظ زندگی و کاهش درد و رنج انسان‌ها به شمار می‌رود.

افغانستان یکی از کشورهایی است که به دلیل موقعیت جغرافیایی و شرایط اقلیمی، به طور مکرر با حوادث طبیعی روبه‌رو می‌شود. سیلاب، زلزله، برف‌کوچ، خشکسالی و طوفان‌ها از جمله حوادثی هستند که همه ساله زندگی هزاران خانواده را تحت تأثیر قرار می‌دهند. به علت کوهستانی بودن بسیاری از مناطق، فقر اقتصادی، کمبود امکانات و آگاهی پایین در مورد مدیریت بحران، خسارات جانی و مالی این حوادث در افغانستان بیشتر می‌باشد.

بسیاری از مردم در مناطق آسیب‌پذیر زندگی می‌کنند و در صورت وقوع حادثه، آمادگی کافی برای مقابله با آن ندارند. به همین دلیل افزایش آگاهی و آمادگی مردم می‌تواند نقش مهمی در کاهش خسارات داشته باشد.

برای پیشگیری و کاهش خطرات ناشی از حوادث طبیعی، لازم است مردم و نهادهای مسئول اقدامات لازم را انجام دهند. ساخت خانه‌ها و ساختمان‌های مقاوم در برابر زلزله، جلوگیری از ساخت‌وساز در مسیر سیلاب‌ها، حفظ جنگلات و پوشش گیاهان برای جلوگیری از لغزش زمین و سیلاب و ایجاد سیستم‌های هشدار دهنده از جمله اقدامات مهم پیشگیرانه به شمار می‌روند. همچنان آگاهی مردم در مورد آمادگی در برابر حوادث، تهیه یک بسته اضطراری شامل آب، غذا، چراغ، رادیو، دوا و وسایل کمک‌های اولیه می‌تواند در زمان بحران بسیار مفید باشد.
زمانی که یک حادثه طبیعی رخ می‌دهد، مهم‌ترین کار حفظ آرامش و اقدام سریع و درست است. مردم باید ابتدا از محل خطر دور شوند و در صورت امکان به مناطق امن پناه ببرند. اگر زلزله رخ دهد، افراد باید در زیر میز یا مکان‌های محکم پناه بگیرند و از پنجره‌ها و اشیای سنگین دور بمانند. در هنگام سیلاب باید به نقاط بلندتر رفت و از عبور از جریان آب خودداری کرد. پس از وقوع حادثه، همکاری با نیروهای امدادی و کمک به افراد آسیب‌دیده اهمیت زیادی دارد.
نجات متضررین یکی از مهم‌ترین وظایف در زمان حوادث طبیعی است. در این حالت باید ابتدا وضعیت محل بررسی شود تا خطرات احتمالی مانند ریزش ساختمان یا برق‌گرفتگی وجود نداشته باشد. سپس افراد زخمی یا گرفتار باید به آرامی از محل خطر منتقل شوند. اولویت کمک‌رسانی با افرادی است که دچار جراحت شدید، خون‌ریزی یا بیهوشی شده‌اند. در چنین شرایطی کمک‌های اولیه صحی می‌تواند جان بسیاری از افراد را نجات دهد.
کمک‌های اولیه شامل اقداماتی است که قبل از رسیدن کارکنان صحی برای نجات جان مجروحان انجام می‌شود. برای مثال، اگر فردی دچار خون‌ریزی شدید شده باشد باید با یک پارچه پاک محل زخم را بسته نموده تا خون‌ریزی متوقف شود. اگر شخصی بیهوش باشد باید راه تنفس او باز نگه داشته شود و در صورت نیاز او را به پهلو خواباند. در صورت شکستگی استخوان، عضو آسیب‌دیده باید بی‌حرکت نگه داشته شود و با تخته یا باند(پارچه طبی) بسته شود تا از آسیب بیشتر جلوگیری گردد. همچنان در موارد سوختگی باید محل سوختگی با آب سرد شسته شود و از گذاشتن مواد غیرصحی بر روی آن خودداری شود.
در نهایت، آگاهی، آمادگی و همکاری مردم با نهادهای امدادی می‌توانند نقش بزرگی در کاهش تلفات و خسارات حوادث طبیعی داشته باشد. آموزش کمک‌های اولیه، ایجاد فرهنگ همکاری و آمادگی در جامعه و توجه به اقدامات پیشگیرانه می‌تواند جان بسیاری از انسان‌ها را نجات دهد و جامعه را در برابر حوادث طبیعی مقاوم‌تر سازد.



# انځوریز البوم




کډوالو ته د خوراکي او غیر خوراکي تو وېش




افغاني سره میاشت په بشرپالو خدمتونو کې خپلواکه ده.



افغاني سره میاشت په بېړنیو حالاتو کې د پېښځپلو لاسنیوي ته وردانګي.



بشري ارزښتونه د افغاني سرې میاشتې له موخو څخه دي.



که چېرې اړمنو ته د مرستې رسونې هوډ لرئ، افغاني سره میاشت يې لاره ده.



د افغاني سرې میاشتې نښان د سولې، کډ ژوند او بشرپالنې سمبول دی.



افغاني سره میاشت د انساني ژوند د ملاتړ او درناوي په موخه رامنځته شوې.



پېښځپلو ته د مرستې روسونې کاروان




افغاني سره میاشت د رضاکارۍ پر محور ولاړه ده.



له افغاني سرې میاشتې ټولنې د خیرپالو وګړو ملاتړ د بشرپالو خدمتونو د پراختیا لامل ګرځي.



د بیړنی مرستې روسونې کاروان



د طبیعي پېښو د زیانمن شویو د سروې جریان




# له کاري شریکانو سره د افغاني سرې میاشتې د رهبرۍ رسمي کتنې

**د افغاني سرې میاشتې عمومي رئیس د نړیوال فدراسیون آسیا پاسیفیک له مشر سره وکتل**

سه شنبه، ۱ شعبان ۱۴۴۷

د افغاني سرې میاشتې عمومي رئیس ښاغلي شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د ملي ټولنو نړیوال فدراسیون د آسیا پاسیفیک برخې له مشر ښاغلي الکساندر متیو او مل پلاوي سره وکتل.

کتنه کې اړمنو او راستنو شویو کورنیو ته د مرستو راجلبولو په اړه د بحث سربېره ښاغلي دلاور د هېواد په (۱۸) ولایتونو کې راستنو شویو کورنیو سره د ترسره شویو خوراکي، غیرخوراکي توکو او نغدي مرستو په اړه معلومات وړاندې کړل او ډاډ یې ورکړ، چې د نړیوالو مرستندویه بنسټونو مرستې په بشپړ شفافیت او عدالت مستحقو کورنیو ته رسول شوې دي، د راستنو شویو کډوالو د دوامداره لاسنیوي او د هغوی د ځان بسیاینې په موخه یې د ډېرنیو مرستو غوښتنه وکړه او د هغوی ملاتړ یې د ټولو ګډ مسوولیت وباله.

د ملي ټولنو نړیوال فدراسیون د آسیا پاسیفیک برخې مسوول د افغاني سرې میاشتې د بشري فعالیتونو ستاینه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې د دې ادارې له لارې به راستنو شویو او اړمنو کورنیو مرستې وکړي او د مرستو جلبولو په موخه به د افغاني سرې میاشتې مشرتابه ته بهرنیو هېوادونو کې د مرستندویه بنسټونو له مسوولینو سره د لیدنو زمینه برابره کړي.

**نشست هماهنگی میان رئیس عمومی هلال احمر افغانی و رئیس فدراسیون بین‌المللی جمعیت‌های ملی در افغانستان**

شنبه، ۵ شعبان ۱۴۴۷

نشست هماهنگی میان محترم شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور، رئیس عمومی هلال احمر افغانی و محترم حسام فیصل، رئیس فدراسیون بین‌المللی جمعیت‌های ملی در افغانستان، به‌منظور فراهم‌سازی کمک‌های عاجل بشردوستانه برای عودت‌کنندگان و خانواده‌های آسیب‌دیده از زلزله و رسیدگی به مشکلات آنان برگزار شد.

در این نشست، محترم شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور معلوماتی را در مورد نیازها و مشکلات عاجل عودت کننده‌گان و خانواده‌های متضرر شریک ساخته و افزود که

خانواده‌های عودت‌کننده، علاوه بر مواد غذایی و سرپناه، به کمک‌های گستردهٔ بشردوستانه نیز نیاز دارند. تصریح کرد که فراهم‌سازی مواد غذایی و غیرغذایی، خدمات صحی، البسه زمستانی و سرپناه برای این خانواده‌ها از اولویت‌های هلال‌احمر افغانی است؛ اما این اداره به تنهایی توان رسیدگی به تمام مشکلات و نیازهای خانواده‌های عودت‌کننده را ندارد و در این زمینه کمک‌های بشردوستانهٔ نهادهای بین‌المللی بسیار مهم است.

رئیس فدراسیون بین‌المللی در افغانستان در سخنان خود گفت: ادارهٔ ما به حمایت و دستگیری از عودت‌کنندگان و خانواده‌های زلزله‌زده متعهد است و در هماهنگی با هلال‌احمر افغانی، کمک‌ها را مطابق با نیازهای آنان فراهم خواهد کرد. وی اطمینان داد که مشکلات این خانواده‌ها را با مسئولین سایر نهادهای کمک‌رسان شریک خواهد ساخت تا به مشکلات خانواده‌های آسیب‌دیده به‌موقع رسیدگی شود.

**معاون هلال‌احمر افغانی با مسئولین صلیب سرخ دنمارک و اداره بین‌المللی مهاجرت دیدار نمود**

یکشنبه، ۷ رجب ۱۴۴۷

محترم حافظ عزیزالرحمن، معاون هلال احمر افغانی، با آقای محمد الشمع، مسئول صلیب سرخ دنمارک در افغانستان و آقای توماس، معاون ادارهٔ بین المللی مهاجرت، نشست سه جانبه‌ای را در دفتر مرکزی این اداره، به منظور گسترش همکاری در زمینه نگهداری و تداوی بیماران روانی برگزار کرد.

در این نشست، محترم حافظ عزیزالرحمن به نمایندگان این نهادها در مورد خدمات بشردوستانه‌ای که از جانب هلال‌احمر افغانی در بخش‌های مختلف به شهروندان کشور ارائه می‌شود، معلومات داد و افزود که در نتیجه حوادث و بحران‌های گذشته، شمار زیادی از شهروندان به بیماری‌های روانی مبتلا شده‌اند و به حمایت و رسیدگی گسترده نیاز دارند. وی کمک‌های نهادهای بین‌المللی امدادرسان را در جهت ارائهٔ خدمات بهتر و گسترده‌تر به بیماران روانی بسیار مهم دانست و از مسئولین یاد شده درخواست همکاری برای حمایت از آنان کرد.

معاون اداره بین‌المللی مهاجرت در افغانستان، در سخنان خود ضمن ابراز خرسندی از فعالیت‌های هلال‌احمر افغانی، وعده سپرد که با در نظرگرفتن امکانات موجود، در بخش مراقبت و تداوی بیماران روانی، همکاری و کمک‌های لازم را با هلال‌احمر افغانی انجام خواهد داد.

**د افغاني سرې میاشتې او ترکیې آی اېچ اېچ بنسټ ترمنځ ناسته وشوه**

یکشنبه، ۲۱ رجب ۱۴۴۷

د افغاني سرې میاشتې مرستیال، ښاغلي حافظ عزیزالرحمن، په افغانستان کې د ترکیې د آی اېچ اېچ خیریه بنسټ د مسوول ښاغلي سلیمان ایپلي او مل پلاوي سره د کډوالو، پېښځپلو او بې‌سرپرسته کورنیو د لاس‌نیوي او همکاریو د دوام په موخه ناسته وکړه.

د افغاني سرې میاشتې مرستیال د خیریه بنسټونو مرستې د اړمنو، بې‌سرپرسته او زیانمنو شویو کورنیو لپاره خورا مهمې وبللې او زیاته یې کړه، چې بشري مرستې د ناورینونو د مدیریت او د خلکو د ستونزو کمولو په برخه کې اغېزمنې دي. نوموړي د یاد خیریه بنسټ له مسوولینو غوښتنه وکړه، چې د پېښځپلو او راستنېدونکو کډوالو لوړ شمېر ته په کتو خپلې مرستې لا پراخې کړي او ډاډ یې ورکړ، چې سره میاشت په دې برخه کې د هر ډول اسانتیاوو برابرولو ته چمتو ده.

په افغانستان کې د ترکیې د آی اېچ اېچ خیریه بنسټ مشر د افغاني سرې میاشتې له لارې د بشري فعالیتونو د پراختیا ډاډ ځرګند کړ او زیاته یې کړه، کوښښ کوو له افغاني سرې میاشتې سره په ګډه د کډوالو، بې‌سرپرسته او زلزله ځپلو کورنیو ستونزو ته پروخت رسېدنه وکړو او دې برخه کې خپلې مرستې لا ډېرې کړو.

**د افغاني سرې میاشتې رهبري له نړیوالو کاري شریکانو سره د روژه ماتي ګډ مجلس وکړ**

سه شنبه، ۲۱ رمضان المبارک ۱۴۴۷

د افغاني سرې میاشتې له لوري تېر ماښام کابل کې نړیوالو کاري شریکانو ته د افغاني دود او مېلمه پالنې له مخې روژه ماتي چمتو او ګډ مجلس ترسره شو.

په دې مجلس کې د افغاني سرې میاشتې عمومي رئیس شیخ‌الحدیث شهاب الدین دلاور، د نوموړي مرستیال حافظ عزیزالرحمن، د سکرترجنرال مرستیالانو، د مرکزي دفتر

رئيسانو، د مقام سلاکارانو او په افغانستان کې د نړيوالو کاري شريکانو استازو ګډون درلود.

په دغو کاري شريکانو کې د سره صليب نړيواله کمېټه(ICRC)، د سره صليب او سرې مياشتې نړيوال فدراسيون(IFRC)، د قطر او ترکيې سرې مياشتې، د ډنمارک او ناروې د سره صليب ټولنې شاملې وې.

د افغانۍ سرې مياشتې عمومي رئيس په خپلو خبرو کې د تېرو څو کلونو په ترڅ کې د طبيعي او بشري ناورينونو پر مهال د نړيوالو کاري شريکانو له همکاريو مننه او ستاينه وکړه.

هغه وويل: د نړيوالو مرستندويه ادارو ملاتړ د اړمنو وګړو په لاسنيوي کې مهم او اغېزناک رول لوبولی دی.

نوموړي زياته کړه: افغانستان دا مهال د طبيعي پېښو، بې وزلۍ او پراخو بشري اړتياوو له ننګونو سره مخ دی او افغانۍ سره مياشت هڅه کوي، څو له خپلو نړيوالو شريکانو سره په همغږۍ د هېواد په بېلابېلو سيمو کې زيانمنو وګړو ته پروخت مرستې ورسوي.

له بلې خوا، د نړيوالو کاري شريکانو استازو هم د افغانۍ سرې مياشتې د فعاليتونو ستاينه وکړه. څرګنده يې کړه: افغانۍ سره مياشت تل د هېواد په سختو شرايطو کې د اړمنو، بې سرپرسته کورنيو او پېښځپلو ترڅنګ ولاړه ده او ټينګار يې وکړ چې خپلو بشري مرستو او همکاريو ته به دوام ورکړي؛ څو د طبيعي پېښو او بېړنيو حالاتو پر مهال زيانمنو وګړو ته پروخت او اغېزمنې مرستې ورسول شي.

## له آی اېچ اېچ بنسټ سره د رضاکارانو د روزنې پر پياوړتيا خبرې وشوې

شنبه، ۲۵ رمضان ۱۴۴۷

د افغانۍ سرې مياشتې مرستيال، حافظ عزيزالرحمن، په افغانستان کې د ترکيې د آی اېچ اېچ بنسټ له مشر سليمان اېپلي او مل پلاوي سره ناسته وکړه.

ناسته کې، چې د ياد بنسټ د پېښو پروړاندې د مبارزې سيمه ييز مسوول ګورکان الوتش هم حضور درلود، د طبيعي پېښو پر مهال د رضاکارانو د روزنې د پياوړتيا پر لارو چارو د بحث ترڅنګ د ګډو همکاريو پر پراختيا ټينګار وشو.

ښاغلي حافظ عزيزالرحمن وويل: د هېواد په کچه د طبيعي پېښو پر مهال د زيانمنو کورنيو د ژغورنې، د لومړنيو مرستو رسولو او د بېړنيو خدمتونو وړاندې کولو برخه کې د افغانۍ سرې مياشتې رضاکاران فعاله او اغېزمنه ونډه لري.

نوموړي ټينګار وکړ، چې د منظمو روزنيزو پروګرامونو تطبيق او د اړينو تخنيکي تجهيزاتو برابرول کولای شي د طبيعي پېښو پر مهال د ژغورنې او مرستو رسولو بهير چټک او معياري کړي. هغه په دې برخه کې د ياد بنسټ د تخنيکي او مسلکي همکارۍ غوښتنه وکړه.

افغانستان کې د ترکيې د آی اېچ اېچ بنسټ مشر او ورسره مل پلاوي ډاډ ورکړ، چې د پېښو پروړاندې د مبارزې په برخه کې به تر(۳۰) تنو پورې رضاکارانو ته تخنيکي روزنه ورکړي.

همدارازپلاوي ژمنه وکړه، چې د طبيعي پېښو د زيانونو د کمولو او د بشري مرستو د همغږۍ د پياوړتيا په موخه به له افغانۍ سرې مياشتې سره خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

## د بېلګېتس بنسټ له مسوولې سره د پوليو پر مخنيوي خبرې وشوې

چهارشنبه، ۲۲ رمضان ۱۴۴۷

د افغانۍ سرې مياشتې مرستيال ښاغلي حافظ عزيز الرحمن د بېلګېتس بنسټ د آسيا لپاره د پوليو برخې له مسوولې آغلې اناماريا سره په افغانستان کې د پوليو د مخنيوي، د واکسين کمپاينونو د پياوړتيا او راتلونکو همکاريو په اړه آنلاين ناسته وکړه.

ښاغلي حافظ عزيزالرحمن د پوليو واکسين په برخه کې د بېلګېتس بنسټ د دوامداره همکاريو مننه وکړه او د(۲۰۲۵) کال په اوږدو کې يې د واکسين بهير بريالی وباله. هغه ډاډ ورکړ، چې افغانۍ سره مياشت به د پوليو د له منځه وړلو لپاره خپلې هڅې لا پياوړې کړي.

له بل لوري د آسيا لپاره د بېلګېتس بنسټ د پوليو برخې مسوولې د پوليو د مخنيوي په برخه کې د افغانۍ سرې مياشتې رول مهم وباله او ويې ويل چې په سيمه کې د پوليو له منځه وړلو لپاره ګډو هڅو او دوامداره همکاريو ته اړتيا ده. نوموړې زياته کړه، چې د پوليو واکسين د تطبيق بهير بايد په منظم ډول دوام ومومي؛ څو ټول ماشومان تر پوښښ لاندې راشي او د دې ناروغۍ د له منځه وړلو لپاره لازم ګامونه پورته شي.



# د روغتیايي خدمتونو ریاست له رئیس سره ځانګړې مرکه

۱. پوښتنه: رئیس صیب په سرکې که د مجلې درنو لوستوونکو ته ځان معرفي کړئ؟

ځواب: السلام علیکم ورحمة الله، ډاکټرعبدالله عرفان یم، د افغاني سرې میاشتې ټولنې د روغتیايي خدمتونو ریاست د رئیس په حیث دنده ترسره کوم.

۲. پوښتنه: د صحت ریاست اساسي موخې او دندې څه دي؟

ځواب: د افغاني سرې میاشتې د روغتیايي خدمتونو ریاست د دې اداري له بنسټیزو برخو څخه ګڼل کېږي، چې هدف یې د روغتیايي خدمتونو له لارې د زیانمنو شویو وګړو د روغتیا ښه‌والی، د ناروغیو مخنیوی، د کړاوونو او رنځ کمول دي.

۳. پوښتنه: دا ریاست اوس مهال په څو ولایتونو کې فعالیت لري؟

ځواب: دا مهال دوه روغتونونه(قلبي او مرکزي) په کابل، یو جامع روغتیايي مرکز(CHC) په کندهار،(۴۷) بنسټیز روغتیايي مرکزونه،(۳۸) فرعي روغتیايي مرکزونه(SHCS)، (۹۵) ګرځنده روغتیايي ټیمونه(MHTS)، (۵۷) روغتیايي کمپونه او(۷) د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې روغتیايي مرکزونه د هېواد(۳۴) ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې افغان ولس ته روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي.

۴. پوښتنه: د دې ریاست تر چتر لاندې کوم ډول روغتیايي خدمتونه وړاندې کېږي؟

ځواب: د روغتیايي خدمتونو ریاست اړوند روغتیايي مرکزونه د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي خدمتونو د ټولګې او روغتیايي لارښودونو مطابق هېوادوالو ته روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي، چې عمده برخې یې په لاندې ډول دي.

- په پېښو(زلزلو، سېلابونو، مهاجرینو...) او عادي حالتونو کې لمړني روغتیايي خدمتونه.
- د روغتونونو په کچه د داخله، عمومي جراحي، ارتوپیدي او نسایي ولادي برخو کې تخصصي او بستري خدمتونه.
- د سوري زړه ناروغانو جراحي درملنه د هېواد دننه او بهر روغتونونو کې.

- د مور او ماشوم روغتيا او معافيت کتلوي خدمتونه.
- د پوليو له منځه وړلو او د ورځنيو واکسينونو وړاندې کول.
- د ماشومانو د خوارځواکۍ تشخيص او درملنه.
- د رواني روغتيا او اجتماعي ملاتړ خدمتونه وړاندې کول.
- د ټولنې په کچه د لومړنيو مرستو خدمتونه.
- د رواني ناروغانو درملنه او ساتنه کول.

۵. پوښتنه: آيا ګرځنده روغتيايي ټيمونه هم لرئ؟ په کومو سيمو کې فعاليت کوي؟

ځواب: ګرځنده روغتيايي ټيمونو په (۲۰۰۲ز) کال کې خپل فعاليت د لمړي ځل لپاره د روغتيايي خدمتونو رياست تر چتر لاندې پيل کړ او په ځلورد پرش ولايتونو کې (۶۷) ګرځنده ټيمونه لري، چې د (۴۰۴ تنه) تخنيکي پرسونل په واسطه يې چارې پرمخ ځي. ګرځنده روغتيايي ټيمونه د افغاني سرې مياشتې له مهمو برخو څخه شمېرل کېږي، چې د ېېړنيو او طبيعي پېښو له قربانيانو، ړمنو کورنيو، بې ځايه شويو او هغو لرې پرتو سيمو خلکو ته روغتيايي خدمات وړاندې کوي، چې روغتون يا کلينيک ته لاسرسی نه لري. ټول روغتيايي کلينيکونه د عامې روغتيا وزارت سره په موافقه او هماهنګۍ د نړيوالو کاري شريکانو (د نړيوال سور صليب، نړيوال فدراسيون، د ناروې سور صليب، د ډنمارک سور صليب، ترکيه سرې مياشتې او د قطر سرې مياشتې) د مالي ملاتړ په له لارې جوړ شوي دي او نوي مرکزونه هم په همدې ډول د ټولنې د ضرورت په اساس جوړېږي. دا مهال د افغاني سرې مياشتې لخوا د هېواد ځلورو سرحدي سيمو (هرات، نيمروز، کندهار او ننګرهار) کې له ايران او پاکستان څخه بېرته راستنيدونکو کډوالو ته د ځلورو روغتيايي کمپونو او همدارنګه د کونړ زلزله ځپلو لپاره يو روغتيايي کمپ (۲۴) ساعته روغتيايي خدمتونه د مسلکي نارينه او ښځينه کارمندانو لخوا وړاندې کوي.

۶. پوښتنه: د مور او ماشوم د روغتيا لپاره کوم ځانګړي پروګرامونه لرئ؟

ځواب:

- د روغتيايي خدمتونو رياست د خپلو روغتيايي مرکزونو له لارې د مور او ماشوم د روغتيا اړوند خدمات وړاندې کوي، چې پکې له امېندوارۍ مخکې خدمات (ANC)، له امېندوارۍ وروسته خدمات (PNC)، خوندي ولادتونه، جراحي عملياتونه، د کورنۍ د تنظيم خدمات، د خوارځواکۍ خدمتونه او د ماشومانو د واکسين خدمات شامل دي.
- هغه ماشومان چې د زيږون له وخته د سوري زړه ناروغي ولري، د درملنې په موخه د هېواد دننه او بهر تخصصي روغتونونو ته د درملنې په موخه استول کېږي، چې ټول مالي لګښت ورته د دې ټولنې له لورې برابرېږي.
- همدارنګه هغه ماشومان چې (۱۱) کلنو ښکته عمر ولري، د اور له امله شديد سوځېدلي وي، د هډوکو ميکروبي ناروغي ولري، د مثانې او کلمو خاص جراحي ولادي ناروغي ولري د درملنې لپاره المان هېواد ته لېږل کېږي.

۷. پوښتنه: اوس مهال څو روغتيايي کارکوونکي له تاسو سره کار کوي؟

ځواب: تر دې مهاله تقريباً (۲۳۲۴) روغتيايي او خدماتي کارکوونکي د روغتيايي خدمتونو د رياست تر چتر لاندې په دنده بوخت دي.

۸. پوښتنه: د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو لپاره څه ډول روزنيز پروګرامونه لرئ؟

ځواب: روغتيايي خدمتونو رياست د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو لپاره بېلابېل روزنيز پروګرامونه کوم چې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي ټولګې او لارښوونو له مخې تعين شوي دي په منظم ډول د هر کار په جريان کې ترسره کوي، چې د مسلکي روزنيزو ورکشاپونو، ټريننګونو او د کار پر مهال عملي روزنه (On-the-Job Training) په ډول د مور او ماشوم د روغتيا، واکسين، تغذيې، لومړنيو مرستو، بېړنيو حالاتو کې روغتيايي خدمتونو او روغتيايي مديريت په برخو کې د معياري او نويو شويو لارښودونو له مخې ترسره کېږي. دا روزنې د روغتيايي کارکوونکو مهارتونه پياوړي کوي او د روغتيايي خدمتونو کيفيت ښه کوي.

۹. پوښتنه: د درملو او تجهيزاتو د برابرولو سيستم څنګه

تنظیم شوی دی؟

ځواب: د روغتیایي خدمتونو ریاست کې د درملو او طبي تجهیزاتو د برابرولو سیستم د لوژستیک او تدارکاتو د منظم میکانیزم له لارې مدیریت کېږي، چې زیاتره درمل زموږد کاري شریکانو له لوري له نړیوال بازارا او ځینې د هېواد داخل کې پېرل کېږي، چې د ښه کیفیت تظمین له ځان سره لري. روغتیایي مرکزونه د خپلو اړتیاوو راپورونه مرکز ته استوي، وروسته د روغتیایي مرکز خدمتونو او اړتیاوو ته په کتو د منظور شوي پلان او ستندرډ لېست پر اساس درمل او تجهیزات اړوندو مرکزونو ته توزیع کوي. سربېره پردې، د درملو د ذخیرې مدیریت، د ختمېدو نېټې څارنه او د مصرف منظم راپور ورکول ترسره کېږي؛ څو د درملو کمښت مخنیوی وشي او د روغتیایي خدمتونو دوام او کیفیت تضمین شي.

۱۰. پوښتنه: په وروستیو کلونو کې ستاسو مهمې لاسته راوړنې کومې دي؟

ځواب: د روغتیایي خدمتونو ریاست په وروستیو کلونو کې د روغتیایي خدمتونو د پراختیا او د خدمتونو د کیفیت د ښه والي په برخه کې مهمې لاسته راوړنې لرلې دي. له دې جملې څخه د روغتیایي مرکزونو له لارې د مور او ماشوم د روغتیا خدماتو پراختیا، د واکسین او تغذیې پروګرامونو پیاوړتیا او د لرې پرتو سیمو لپاره د ګرځنده روغتیایي ټیمونو فعالول یادولی شو. د افغاني سرې میاشتې د روغتیایي چارو ریاست د(۲۰۲۵ز) کال په ترڅ کې د هېواد ټولو ولایتونو کې د خپلو روغتیایي مرکزونو له لارې په ټولیز ډول (۳,۲۸۴,۹۴۳) وګړو ته د روغتیا اساسي خدمتونه وړاندې کړي دي. همدارنګه(۳۱,۷۳۸) زلزله ځپلو او(۱۱۷,۷۵۶) بېرته راستنېدونکو وګړو ته هم روغتیایي خدمتونه وړاندې شوي دي. سربېره پردې(۵۱۰۰) د سورې زړه ناروغانو درملنه هم په بریالیتوب سره ترسره شوې ده. یاد خدمتونه په سراپا، داخل بستر، خوارځواکۍ، کورنۍ تنظیم، د زېږون څخه مخکې او وروسته پاملرنه، ولادتونه، واکسین، د رواني ناروغانو تداوي، د سورې زړه ناروغانو درملنه، د رواني روغتیا او ټولنیز ملاتړ مشورې او د ټولنې په کچه د لومړنیو مرستو او روغتیایي پوهاوي په برخو کې شامل دي. (۱۹۸۸ز) کال راهیسې د افغاني سرې میاشتې ټولنې او د المان د سولې کلی خیریه مؤسسې ترمنځ یوه هوکړه‌لیک لاسلیک شوې ده. د دې هوکړه‌لیک له مخې هغه ماشومان چې د میکروبي هډوکو ناروغي یا د شدیدو سوځېدنو ښکار وي او په افغانستان کې یې درملنه ناشونې وي، د درملنې لپاره المان ته استول کېږي او په وړیا ډول یې درملنه ترسره کېږي، له درملنې وروسته دغه ماشومان بېرته خپل هېواد ته راستول کېږي. تردې دمه د دې پروګرام له لارې د(۵۱۰۰) تنه ماشومانو درملنه شوې او هېواد ته بېرته راستانه شوي دي. په وروستي ځل د سنبلې میاشت کې(۹۳م) ګروپ، چې(۷۵) تنه ماشومان درملنې لپاره انتخاب شوي وو، د(۱۴۰۴ل) کال د عقرب په(۱۳مه) نېټه المان ته لېږل شوي دي. اوس مهال په المان کې(۱۰۰) تنه ماشومان تر درملنې لاندې دي.

په وروستیو کلونو کې د ناروغانو د زیاتوالي له امله، ځینې ماشومان چې درملنه یې په افغانستان کې امکان لري، مختلفو روغتونو ته معرفي کوې، چې تردې دمه له دې لارې(۲۱۷) تنه ماشومانو درملنه شوې او(۸۷) ماشومان لا هم تر درملنې لاندې دي. د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې مرکزونو له لارې ټولټال(۱,۳۳۲) داخل بستر ناروغان،(۱,۱۷۹) سراپا ناروغان تر درملنې لاندې نیول شوي دي، رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې مرکزونو کې ناروغان لومړی د رواني متخصص لخوا کتل کېږي، کوم ناروغان چې د بستروړوي بستر کېږي او هغه ناروغان چې په کورکې د ساتلو وړوي د سراپا خدمتونو له لارې یې درملنه کېږي او په منظم ډول میاشتني درملو او مشورې اخیستلو لپاره روغتیایي مرکزته راځي، چې د هر مرکز ځای او پرسونل ته په کتو د معین بستر ظرفیت درلودونکی دی. د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې مرکزونو ته په سلګونو هغه رواني ناروغان، چې د امربالمعروف وزارت د محتسبینو له لوري راولږل شوي وو، له طرزالعمل سره سم داخل بستر او یا هم د بستر څخه بهر تر درملنې لاندې نیول شوي دي. د سږکال په جریان کې تر دا مهاله له رواني روغتیایي مرکزونو څخه(۳۱۲) ناروغان بشپړ روغ شوي او

رخصت شوي دي.
د سترګو د ناروغانو او تالو چاک خدمتونه: په کلني ډول د بهرنيو متخصصينو لخوا زيات شمېر د سترګو ناروغانو او د شونډو او تالو چاک ناروغانو درملنه ترسره کېږي. بهرني او داخلي ډاکټران د خيريه بنسټونو په تخنيکي او مالي ملاتړ په کال کې دوه يا درې ځلې په مرکز او د زون په کچه د سترګو د پردې عملياتونه په وړيا ډول ترسره کوي، چې په هر زون کې د(۴۰۰) ناروغانو عملياتونه،(۱۰۰۰) کسانو ته عينکې او زيات شمېر ناروغانو کتنه او وړيا درملنه ترسره کوي. د سترګو د پردو پورتني ذکرشوي عملياتونو لپاره هر ځل دوه زونونه انتخابېږي. همدارنګه د شونډو او تالو چاک ناروغانو درملنه او عملياتونه د بهرنيو متخصصينو له لوري ترسره کېږي.

۱۱. پوښتنه: ستاسو خدمتونو په ټولنه کې څه مثبت بدلونونه راوستي دي؟

ځواب: په لرې پرتو سيمو کې د روغتيايي مرکزونو او ګرځنده ټيمونو له لارې خلکو ته د اساسي روغتيايي خدمتونو لاسرسی زيات شوی، چې د ټولنې د روغتيايي وضعيت په ښه والي کې مهم رول لري او په ټولنه کې ګڼ مثبت بدلونونه رامنځته شوي دي. د مور او ماشوم د روغتيايي خدماتو پراختيا د ميندو او ماشومانو د مړينې د کچې په کمولو کې مرسته کړې ده. همدارنګه د واکسين او تغذيې پروګرامونو له لارې د ماشومانو د ناروغيو او خوارځواکۍ کچه راکمه شوې ده. پوليو ناروغی له نظره لوړ خطر لرونکو ولايتونو کې د دې ناروغۍ د له منځه وړلو په برخه کې ښې لاسته راوړنې لرو. مرکزي روغتون او نورو برخو کې د تخصصي خدمتونو له لارې چې پورته يې يادونه وشوه، د زړګونو هېوادوالو روغتيا تضمين او معيوبيت راوړونکو ناروغيو پروخت درملنه شوې او د ماشومانو ژوند ژغورل شوی دی.

۱۲. پوښتنه: کومې بېلګې شته چې د خلکو ژوند يې په مستقيم ډول ژغورلی وي؟

ځواب: د بېړنيو واقعاتو لکه زلزلې، سيلابونو او ورته پېښو پرمهال د لومړنيو مرستو په ترسره کولو سره د بې شمېره هېوادالو ژوند ژغورل شوی. اميندوارو ښځو او کوچنيو ماشومانو ته په وخت د روغتيايي خدمتونو رسولو له لارې لکه: خوندي ولادت، له ولادت مخکې او وروسته خدمتونه، تغذيې خدمتونه او بېړنی روغتيايي مرستو د ميندو او نويو زېږېدلو ماشومانو د مړينې کچه راکمه او ژوند د ژغورلو سبب يې ګرځيدلی.

همدارنګه هغه ماشومان چې د زېږون له وخته د سورې زړه ناروغی لرې، د درملنې لپاره د هېواد دننه تخصصي روغتونونو ته د درملنې لپاره استول کېږي، چې د دوی ژوند ژغوري. همدارنګه هغه ماشومان چې شديد سوءتغذۍ سره مخ وي، چې د سوء تغذۍ ناروغیو له کبله د ماشومانو د مړينې کچه لوړه ده. خو په ګڼو سيمو کې مشرانو، ښځو او ماشومانو ته د روغتيايي ناروغيو اسانتياوې برابرې کړې دي، د ګڼو ماشومانو ژوند ژغورلی شوی.

۱۳. پوښتنه: د صحت رياست تر ټولو سترې ننګونې څه دي؟

ځواب: د روغتيايي خدمتونو رياست تر ټولو سترې ننګونې لرې پرتو سيمو ته د روغتيايي خدمتونو رسول، د مالي سرچينو محدوديت او ځينې وخت د درملو او طبي تجهيزاتو د دوامداره تأمين ستونزې دي. سربېره پردې، د جغرافيايي ستونزو او د خلکو د پوهاوي کموالی هم د روغتيايي خدمتونو د بشپړ تطبيق پروړاندې ننګونې رامنځته کوي. سره له دې د روغتيايي خدمتونو رياست هڅه کوي، چې د همکارو بنسټونو او منظم پلان له لارې دا ستونزې کمې کړي او خلکو ته باکيفيته خدمتونه وړاندې کړي.

۱۴. پوښتنه: د بودجې، تجهيزاتو يا بشري ځواک له پلوه له کومو ستونزو سره مخ ياست؟

ځواب: د روغتيايي خدمتونو رياست د بودجې، تجهيزاتو او بشري ځواک له پلوه له ځينو ستونزو سره مخ دی. د بودجې محدوديت د دې سبب ګرځي؛ څو ځينې پلان شوي روغتيايي فعاليتونه په بشپړ ډول او يا پروخت تطبيق نه شي. همدارنګه په ځينو لرې پرتو سيمو کې د مسلکي روغتيايي کارکوونکو کمښت او د طبي تجهيزاتو محدود شتون د خدمتونو په کيفيت اغېز کوي. سربېره پر دې، د درملو او تجهيزاتو د دوامداره تأمين او له هېواد بهر څخه لوجستيکي انتقال هم کله ناکله د روغتيايي

خدمتونو پر ورانديږ ننګونې رامنځته کوي. خو بيا هم دا رياست هڅه کوي، چې د ښه مديريت او همغږۍ له لارې دا ستونزې تر ممکنه حده کمې کړي.

۱۵. پوښتنه: لرو پرتو سيمو ته د خدمت رسولو پر مهال کوم خنډونه موجود دي؟

ځواب: د دې خنډونو له جملې، د جغرافيايي ستونزو له امله سخت او نامناسب مسيرونه، د موسمي او هوايي شرايطو اغېز، د مسلکي روغتيايي کارکوونکو کمښت، د درملو او تجهيزاتو محدوديت او د خلکو د روغتيايي پوهاوي ټيټوالی شامل دي.

۱۶. پوښتنه: د راتلونکو کلونو لپاره ستاسو ستراتيژيک پلانونه څه دي؟

ځواب: د روغتيايي خدمتونو رياست د راتلونکو کلونو ستراتيژيک پلانونه د مور او ماشوم د روغتيايي خدمتونو پراختيا، د واکسين او تغذيې پروګرامونو پياوړتيا، د لرې پرتو سيمو لپاره د ګرځنده روغتيايي ټيمونو پراخول، د حفظ الصحې او صحي اوبو رسونې خدمات، د رواني ناروغانو ساتنه او درملنه، د ساري زړه ناروغانو درملنې په موخه اساسي روغتون فعالول، د ټولنې په کچه د لومړنيو مرستو خدمتونه، د رواني روغتيا او ټولنيز ملاتړ مشورې، د امبولانس خدمتونه او د کارکوونکو د ظرفيت لوړول او د درملو او تجهيزاتو د دوامداره تأمين تضمين دی.

۱۷. پوښتنه: له خلکو او مرستندويه بنسټونو څخه مو غوښتنه څه ده؟

ځواب: له خلکو څخه تمه کېږي، چې د عامې روغتيا د اصولو او وقايوي تدابيرو جدي مراعت وکړي، لکه د شخصي او چاپيريالي حفظ الصحې ساتل، د واکسيناسيون پروګرامونو کې فعاله ګډون او د ساري ناروغيو د مخنيوي لپاره د روغتيايي لارښوونو عملي کول. همدارنګه خلک بايد د روغتيايي پوهاوي په پروګرامونو کې برخه واخلي او د ناروغيو د وختي تشخيص لپاره روغتيايي مرکزونو ته پر وخت مراجعه وکړي.

له مرستندويه بنسټونو څخه مو غوښتنه دا ده، چې د روغتيايي سيستم د پياوړتيا لپاره تخنيکي او مالي ملاتړ برابر کړي، لکه د معياري درملو او عصري طبي تجهيزاتو برابرول، د روغتيايي کارکوونکو د ظرفيت لوړولو لپاره مسلکي روزنيز پروګرامونه تنظيمول او د عامې روغتيا د وقايوي او درمليزو پروګرامونو ملاتړ.

زموږ هيله دا ده چې کاري شريکان او مرستندويه بنسټونو په لرې پرتو او له روغتيايي خدمتونو محرومو سيمو کې د روغتيايي مرکزونو د ايجاد او تمويل له لارې د خلکو لاسرسی بنسټيزو روغتيايي خدمتونو ته زيات کړي. بايد د لنډمهاله پروژو په نسبت د ګرځنده روغتيايي ټيمونو(Mobile Health Teams) لپاره دوامداره او اوږدمهاله تمويل ته لومړيتوب ورکړل شي؛ څو په هغو سيمو کې چې ثابت روغتيايي خدمات محدود دي، خلکو ته منظم او دوامداره خدمتونه وړاندې شي.

سربېره پر دې، تمه ده چې مرستندويه بنسټونه د د ساري زړه(Congenital Heart Disease) لرونکو ماشومانو د درملنې په برخه کې مالي ملاتړ هم زيات کړي؛ څو دغه ماشومان وکولای شي پر وخت تخصصي درملنه او جراحي خدمات ترلاسه کړي.

۱۸. پوښتنه: د روغتيا په برخه کې مو خلکو ته پيغام څه دی؟

ځواب: خلکو ته زما پيغام دا دی، چې روغتيا د انساني پرمختګ بنسټيز عنصر دی، نو بايد د وقايوي طب اصولو ته جدي پاملرنه وشي. خلک دې د متوازنې تغذيې، منظم فزيکي فعاليت، کافي استراحت او ذهني روغتيا ساتنې ته پام وکړي. د ساري ناروغيو د مخنيوي لپاره د واکسيناسيون بشپړول، د پاکو اوبو استعمال او د حفظ الصحې اصولو رعايت ډېر مهم دی. سربېره پر دې، خلک بايد د ناروغيو د لومړنيو نښو په څرګندېدو سره ژر روغتيايي خدمتونو ته مراجعه وکړي، څکه وختي تشخيص او درملنه د ناروغيو د جدي کېدو او پيچلتياوو مخه نيسي. د روغتيا ساتنه يوازې د روغتيايي سکتور مسووليت نه دی، بلکې د ټولنې د هر فرد ګډ مسووليت دی.

## سخاوت

محمد یاور هر دردمندی
محمد مونس هر مستمندی

سخاوت پیشۀ پیغمبران است
سخی فرزانه‌ای در امتان است

گشاید درب جنت را خداوند
برای هر که قلبی کرد خرسند

توانگر گر ندارد دست بالا
بگیرد حق ازو امروز و فردا

سخیان دوست دارند هم‌دلی را
کنند آسان هر جا مشکلی را

به درد بی نوا اشکی بریزد
به روی زورمند از پا بخیزد

شبش آرام و روز آرام دارد
سخی نیک است و نیکو نام دارد

کنی روشن چراغ خانه‌ای را
به خود سازی به جنت خانه‌ای را

تو را داده است خدا تا دست گیری
رسی بر رنج و فقر زهیری

و دانشیار خدا داناست هر آن
کنی رحمی به حال مستمندان

کعبۀ دل، سید عبدالعزیز دانشیار





# یو زړه او سل دردونه(د کډوالۍ کیسه)

کیسه

کډوالي د انسان په ژوند کې یوه ترخه تجربه ده؛ له دې سره د کورارامي، د وطن مینه او د خپلو خلکو ملتیا له لاسه وځي. کډوال نه یوازې له خپل ټاټوبي لرې کېږي، بلکې د نامعلوم برخلیک، یوازیتوب او ګڼو ستونزو له اوږدې لارې سره هم مخامخېږي. هرکډوال په زړه کې داسې کیسې لري، چې له درد، زغم او هیلو ډکې وي.

افغانستان له هغو هېوادونو څخه دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې د خلکو لویه برخه د کډوالۍ ترخو لاروته اړ شوې ده. د بېلابېلو ستونزو له امله میلیونونه افغانان د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې مېشت دي. خو له نېکه مرغه، په وروستیو کلونو کې د بېرته راستنېدو بهیر هم چټک شوی دی. په روان کال کې تردې دمه شاوخوا(۱،۸۷۵،۸۶۲) تنه هېواد ته راستانه شوي دي؛ دا شمېرد هیلو نوې کړکۍ پرانیزي او له خپلې خاورې سره د مینې اړیکه بیا راژوندۍ کوي. دا راستنېدنه یوازې فزیکي بدلون نه دی، بلکې د نوي ژوند پیل، د هیلو بیا راټوکېدنه او د راتلونکي د جوړولو ژمنه هم ده.

سره له دې، راستنېدونکي کډوال له ګڼو ستونزو او ننګونو سره مخ دي. د هغوی لاسنیوی، هرکلی او د ژوند لومړنیو اسانتیاوو برابرول د ټولنې او اړوندو بنسټونو ګډ مسؤولیت دی. په همدې برخه کې د افغاني سرې میاشتې ټولنه د بشري مرستو په ډګرکې مهم رول لري. دغه اداره هڅه کوي چې راستنېدونکو او اړمنو کډوالو ته لاس وروغځوي، روغتیایي خدمتونه او بېړنۍ مرستې برابرې کړي او د ژوند د بیا پیل زمینه ورته مساعده کړي، څو د هغوی ستونزې تر یوه بریده راکمې شي.

له همدې زرګونو کیسو څخه:

یوسف خان، د الف نورزوی، د پکتیا د غرونو له سړې ساه او د خپل کلي له خاورې سره د مینې کیسه له ځان سره لرله؛ خو ژوند هغه داسې لارو ته بیولی و، چې څلور نه، بلکې څلوېښت کاله یې د پاکستان د کوټې د هنګو په سیمه کې د کډوالۍ شپې او ورځې تېرولې.

دی وایي: هلته، سره له دې چې د پردیسۍ درد راسره و، ژوند مو روان و. زه د اتم ټولګي زده‌کوونکی وم؛ یو ورور مې د ټیلیفونونو د ترمیم دوکان درلود او بل ورور مې د موټرسایکلونو مستري و. له (۲۲) کسیزې کورنۍ سره مو د همدې کار او مزد په برکت خپل ژوند په عزت او ارامۍ تېراوه.

خو ناڅاپه هرڅه بدل شول...

د تقدیر څپه داسې راغله چې موږ یې په زور له هغه ځایه وشړلو. نه مو د کور د ترلو وخت درلود او نه د سامان د راټولولو فرصت. یوازې په تنو جامو، د اوښکو په تویېدو، خپل ټول ژوند، دوکانونه، وسایل او د کلونو خواري مو هلته پرېښودله.

کله چې د تورخم کمپ ته ورسېدو، ستړي، ستومانه او له نامعلوم برخلیک سره مخ وو. هلته، د بېلابېلو ادارو تر څنګ، د افغاني سرې میاشتې کارکوونکو هم زموږ لاس ونیو. د پخو خوړو ترڅنګ یې د ماشومانو او سپین ږیرو لپاره روغتیایي خدمتونه برابر کړل. څه ناڅه مو زړه ته تسل راغی او د انسانیت تود احساس مو وموند؛ خو د زړه درد په څو ورځو نه ختمېږي...

دوه شپې او یوه ورځ وروسته، د کابل د بګرامیو ولسوالۍ، د قلعه محسن سیمې ته راغلو. هلته، که څه هم د افغاني سرې میاشتې له لوري یوه اندازه نغدي مرسته راسره وشوه، دا مرسته، سره له دې چې پروخت او ارزښتناکه وه، خو د دومره لویې کورنۍ ټولې اړتیاوې یې نه شوای پوره کولای.

اوس مو کورکرایي دی او د کار د بیا پیل لپاره لا هم له ستونزو سره مخ یو؛ خو هڅه کوو چې بېرته پر خپلو پښو ودرېږو....

د هغه دا کیسه یوازې د یوه انسان کیسه نه ده، بلکې د زرګونو کډوالو د ګډ درد، زغم او هیلو انځور دی، چې د مرستې او پاملرنې غوښتنه کوي.



# څرګندوني

## دکتور لطف الله قمري

د افغاني سرې میاشتې ټولنه د همدردۍ نښـــــه او د اړمنو خلکو د لاســـنیوي یوه مهمه مرجع ده. کله چې د افغاني ســـرې میاشـــتې نوم یادېږي، ذهن ته د هغو ځوانانو انځور راځي چې د زلزلې پرمهال په خاورو او دوړو پوښـلي، په رضـاکارانه توګه د خپلو هېوادوالو د ژغورلو لپاره نه ســتړې کېدونکې هڅې کوي. هرکله چې زلزله او سـېلاب راشـي او هېوادوال زيان ووینې، هلته د افغاني سرې میاشتې نښـــان له خپلو ځانګړو سرو جامو سره ښـکاره وي؛ هلته به وګورئ چې دا خدمتګاران په بېړه او ژمنتیا د خلکو د ژغورلو هڅه کوي.

افغاني سره میاشت یوازې یو نوم او نښان نه دی، بلکې د امید یو څرک دی؛ داسې څرک چې تر ټولو ناهیلې فضـا کې هم هیلې راژوندۍ کوي.

افغاني ســره میاشـــت د هغو مېرمنو، ســـپین ږیرو، ماشومانو او معلولینو ملاتړکوې چې سرپرست نه لري.

په ژبه اســانه ده چې څوک د نااميده او بې‌ســرپرســته انســان لپاره د هیلې خبره وکړي، خو که انســان خپله له داسې حالت سره مخ شي او ناڅاپه د مرستې لاس او د امید رڼا ووینې، نو په رښـتیا یې ســترګې د خوښـــی له اوښکو ډکېږي.

افغاني سره میاشت له دې ټولو سره، د روڼتیا د ساتنې لپاره روښانه او منظمې کړنلارې لري. سـره له دې چې دا اداره د باخبره، متقي او ژمنو کســـــانو له لوري رهبري کېـــــږي، بیا هم د لا زیات باورد رامنځته کولو لپاره، له داخلي پلټنې نیولې تر حکومتي څارنې او نړیوالو ارزونو پورې، بېلابېل میکانیزمونه کارکوي، څو شـــــفافیت او حساب ورکونه یقیني کړي.

افغاني سره میاشت په سختو شېبو کې د خلکو لپاره د ارام او ډاډ ساه برابروي.

## شوکت علی فایق

سره میاشت و سـایر سـازمان‌ها زمانی مفید و ارزشـمند واقع می‌شـــود که طرزالعمل و رویکردشـــان جنبه سیاسی نگیرد و برای همیشـــه بی‌طرفی خود را حفظ نمایند.

تمام فعالیت‌های این جمعیت همســـو به ارزش‌های اسلامی؛ انسانی و شامل همه طبقات جامعه می‌شود.

جمعیت هلال احمر افغانی تنها آدرســی اســت که در ســـخت‌ترین شـــرایط حامی آســیب پذیرترین طبقه اجتماع و طرف‌های جنگ می‌باشـــد، افراد که قربانی جنگ است، مریضـــــان که سراخ قلب دارند و یا هم معیوب هســــتند تنها مرجع و نهادی که به آنان امید می‌بخشد همین جمعیت است.

بطورکلـــی؛ جمعیت هلال احمـــر افغانـــی یک نهاد بشردوستانه، غیرسیاسی و غیرانتفاعی است که هدف اصلی آن کمک به انســان‌ها درزمان نیاز بدون توجه به قومیت، مذهب، دیدگاه ســیاســی یا ملیت اســت؛ با دلایلی ذیل دیدگاه من نســـبت به سره میاشت مثبت است:

درحوادث طبیعی مانند: زلزله، سیلاب و خشـــک‌سالی نقش مهم و حیاتی دارد.

این سازمان درکمک‌های صحی و امدادی(اهدای خون، کمک‌های اولیه، رسیدگی به زخمی‌ها...) فعال است همیشـه تلاش می‌کند کرامت انسـانی حفظ شود، حتی درشرایط سخت و بحرانی این سازمان بخشـــی از یک شــبکه جهانی اســت که تجربه و معیارهای بین‌المللی دارد.

## محمد پرډیس مردان

د افغاني سرې میاشتې چوپړتیاوې، د هېواد د اوسني بشري وضعیت په نظرکې نیولو سره، مهمې او اړینې دي. دا ټولنه ډېرې وخت په هغو سیمو کې راڅرګندېږي چې نور بنسټونه لږحضور لري. د طبیعي پېښو، بېړنیو حالاتو او ناورینونو پرمهال د لومړنیو مرستو رسول، د خوراکي او غیرخوراکي توکو وېش، د لنډمهاله سرپناه برابرول او د زیانمنو کورنیو لاسنیوی هغه برخې دي چې عملي اغېزې یې څرګند دي. په ځانګړي ډول، د دې بنسټ د رضاکارانو رول د ستاینې وړ دی؛ ځکه همدا رضاکاران د پېښو په لومړیو ساعتونو کې د مرستې کرښې ته رسېږي او فعالیتونه یې عملي بڼه خپلوي. د یادونې وړ ټکی دا دی چې د دوی ډېری فعالیتونه د ناپېلتوب تر اصل لاندې ترسره کېږي، چې د بشري ادارو یو بنسټیز اصل ګڼل کېږي.

زما په اند، د کیفیت، روڼتیا او پایښت په برخه کې د لا ښه والي لپاره لا زیات کارته اړتیا ده. د مرستو د وېش د میکانیزم روڼتیا، د معلوماتو عامه شریکول او د پایلو منظم ارزول باید لا پیاوړي شي، څو خلک نه یوازې مرستې ترلاسه کړي، بلکې باور یې هم ورسره زیات شي. همدارنګه، د رضاکارانو مسلکي روزنه او د سیمه‌ییزو دفترونو د ظرفیت لوړول کولای شي فعالیتونه لا اغېزمن کړي.

په ټوله کې، ویلای شو چې افغاني سره میاشت په افغانستان کې یو مهمه او اړینه بشري ټولنه ده، چې فعالیتونه یې د قدروړدي. د دې لپاره چې رول یې لا پیاوړی او پایدار شي، اړینه ده پر دوامدارو پروګرامونو تمرکز زیات شي، څو خدمتونه یې له بېړنیو کچې څخه لا غوره مرحلې ته ورسېږي.

## مرتضی علیزاده

سری زدم به صفحه اجتماعی فیسبوک و با صفحه هلال احمر افغانی(سره میاشت) برخوردم که به افراد نیازمند متأثر از حوادث طبیعی و عودت کننده‌گان از عالم مهاجرت مساعدت توزیع نموده بود.

افغانستان بدلیل سالیان طولانی جنگ و قرارگرفتن در منطقه دارای حوادث طبیعی بشدت نیازمند کمک‌های بشردوستانه است، طی سال‌های گذشته بدلیل خشکسالی در افغانستان که اقتصاد آن زراعتی است قسمت اعظم نفوس آن را بطور مستقیم یا غیر مستقیم تحت تأثیر قرار داده است.

خانواده‌های که درآمد آن مستقیما وابسته به زراعت است دچار کاهش درآمد و فقر گردیده است و نیاز است تا مساعده‌های انسانی و بشردوستانه را دریافت نماید. همچنان مهاجرین برگشته به کشور به دلیل نداشتن مسکن و سرپناه شدیدا نیازمند کمک‌های بشری است. با مرور فعالیت‌های سره میاشت این امیدواری خلق می‌شود که یک نهاد با شبکه حمایت و روابط جهانی و رضاکارانه برای رسیدگی و کاهش درد و رنج مردم وجود دارد و فعالیت‌های موثر و گسترده را در سراسر افغانستان انجام می‌دهد. همچنان از سایر فعالیت‌های این نهاد خدمت رسان بشردوستانه برگزاری دوره‌های آموزشی رایگان است که برای بلند بردن آگاهی عامه در قسمت امادگی و مقابله با حوادث طبیعی دایر می‌گردد.



# فاجعهٔ قاچاق انسانی و دستگیری هلال‌احمر افغانی

گاهی سرنوشت انسان‌ها در مسیرهای دشوار مهاجرت و دوری از وطن با لحظات تلخ و خطرناکی گره می‌خورد. در چنین شرایطی، سرمای سخت طبیعت، دوری از خانواده و نداشتن پناه امن می‌تواند جان انسان‌ها را با تهدید جدی روبه‌رو سازد. در این میان، دست یاری و همدلی نهادهای بشردوستانه می‌تواند امید تازه‌ای برای نجات و بازگشت به زندگی باشد. جمعیت هلال‌احمر افغانی همواره تلاش کرده است تا در چنین لحظات حساس، در کنار هم‌وطنان آسیب‌دیده ایستاده و با فراهم‌سازی کمک‌های صحی و انسانی، مرهمی بر دردها و رنج‌های آنان بگذارد. در ادامه، گزارشی از رسیدگی و حمایت از شماری از هم‌وطنان ارائه می‌شود که در پی یک رویداد دشوار قاچاق انسانی دچار آسیب شده بودند و با همکاری نهادهای مربوطه برای تداوی و مراقبت‌های صحی به کابل انتقال داده شدند.

**تعریف قاچاق:** قاچاق به انتقال، جابه‌جایی یا وارد و خارج کردن غیرقانونی انسان، کالا یا اشیاء از یک محل به محل دیگر، به‌ویژه از مرزهای یک کشور به کشور دیگر گفته می‌شود که بدون رعایت قوانین و مقررات رسمی انجام می‌شود.

**قاچاق به انواع ذیل تقسیم می‌گردد:** قاچاق انسان، قاچاق کالا و قاچاق مواد مخدر.

**قاچاق انسان:** قاچاق انسان یکی از جدی‌ترین جرایم سازمان‌یافته در جهان معاصر به شمار می‌رود که همه ساله هزاران انسان، به‌ویژه جوانان و افراد آسیب‌پذیر، قربانی آن می‌شوند. این پدیدهٔ خطرناک نه تنها کرامت انسانی را زیر پا می‌گذارد، بلکه پیامدهای ناگوار اجتماعی، اقتصادی و انسانی نیز به همراه دارد.

یکی از بزرگ‌ترین اضرار قاچاق انسان، به خطر افتادن جان و سلامت افراد است. بسیاری از افرادی که به امید رسیدن به زندگی بهتر راه مهاجرت‌های غیرقانونی را در پیش می‌گیرند، در مسیرهای دشوار مانند بیابان‌ها، کوه‌ها و

دریاها با خطر مرگ، گرسنگی، سرما و بیماری روبه‌رو می‌شوند. در موارد زیادی نیز قاچاقبران با سوءاستفاده از این افراد، آنان را در شرایط غیرانسانی نگهداری کرده و حتی مورد خشونت قرار می‌دهند.

از سوی دیگر، این پدیده باعث فروپاشی خانواده‌ها، افزایش بی‌سرپرستی کودکان و گسترش مشکلات اجتماعی در جامعه می‌شود. بسیاری از خانواده‌ها پس از دست دادن عزیزان خود در مسیرهای قاچاق، با مشکلات روحی، روانی و اقتصادی مواجه می‌گردند. قاچاق افغان‌ها به کشور ترکیه در سال‌های اخیر به یکی از غم‌انگیزترین پدیده‌ها تبدیل شده است. بسیاری از هم‌وطنان ما به امید یافتن زندگی بهتر و فرصت‌های کاری، راه‌های دشوار و خطرناک مهاجرت غیرقانونی را در پیش می‌گیرند؛ اما متأسفانه شماری از آنان در مسیرهای سخت، کوهستانی و سرد با مشکلات و خطرات جدی روبه‌رو می‌شوند.

بنابراین، آگاهی‌دهی دربارهٔ خطرات و پیامدهای قاچاق انسان بسیار مهم است تا جوانان و شهروندان فریب وعده‌های دروغین قاچاقبران را نخورند و از راه‌های قانونی و مصئون برای بهبود زندگی خود اقدام کنند. در چنین شرایط دشوار، جمعیت هلال‌احمر افغانی به‌عنوان یک نهاد بشردوستانه تلاش می‌کند تا به هم‌وطنان آسیب‌دیده رسیدگی و کمک نماید. این نهاد با انتقال متضررین به شفاخانه‌ها، فراهم ساختن خدمات صحی، کمک‌های بشردوستانه و رسیدگی لازم، در کاهش رنج و مشکلات آنان نقش مهمی ایفا می‌کند. از جمله:

درپی یک رویداد دشوار انسانی، چهارده تن از هم‌وطنان که چندی قبل در منطقهٔ سرحدی میان ایران و ترکیه در میان برف و سرمای شدید گیرمانده بودند، پس از انتقال به افغانستان جهت تداوی به شفاخانه‌های شهر کابل منتقل شدند. درآغاز، سفارت افغانستان در جمهوری اسلامی ایران از این متضررین حمایت و رسیدگی نموده و پس از طی مراحل قانونی، آنان در مرز اسلام قلعه به جمعیت هلال‌احمر افغانی تسلیم داده شدند. در نخست این افراد به شفاخانهٔ حوزوی هرات انتقال یافته و پس از انجام معاینات و اقدامات ابتدایی صحی، زمینهٔ انتقال آنان به کابل فراهم گردید و سرانجام این متضررین با همکاری کارکنان جمعیت هلال‌احمر افغانی به کابل انتقال داده شدند

که رئیس عمومی جمعیت هلال‌احمر افغانی، محترم شیخ‌الحدیث شهاب الدین دلاور، با حضور در شفاخانهٔ مرکزی هلال‌احمر از وضعیت صحی این بیماران عیادت نموده و از نزدیک روند درمان آنان را بررسی نمود. پس از دیدار و مشوره با داکتران متخصص شفاخانهٔ مرکزی هلال‌احمر، شفاخانهٔ وزیر محمد اکبرخان و شفاخانهٔ نیروهای خاص، هدایت داد تا بر اساس تشخیص داکتران و وضعیت صحی بیماران، پنج تن در شفاخانهٔ وزیر محمد اکبرخان، پنج تن در شفاخانهٔ نیروهای خاص و چهار تن دیگر در شفاخانهٔ مرکزی هلال‌احمر افغانی بستر و تحت مراقبت‌های صحی قرار گیرند.

دلاور صاحب همچنان به کارکنان صحی هلال‌احمر افغانی توصیه نمود تا در کنار سایر بیماران، به تداوی این هم‌وطنان توجه ویژه داشته و وضعیت صحی آنان را به‌گونهٔ دوامدار و از نزدیک تحت نظارت قرار دهند و به هدایت خاص رئیس عمومی جمعیت هلال‌احمر افغانی، به هر یک از بیماران مبلغ ده هزار افغانی کمک نقدی نیز مساعدت گردید.

در همین حال متضررین مذکور از نحوهٔ برخورد، همکاری و خدمات بشردوستانهٔ جمعیت هلال‌احمر افغانی ابراز رضایت کامل نموده و قدردانی کردند.

اقدامات بشردوستانهٔ هلال‌احمر افغانی نشان‌دهندهٔ تعهد این نهاد به کمک و حمایت از شهروندانی است که در نتیجهٔ قاچاق و مهاجرت‌های غیرقانونی با مشکلات و آسیب‌های جدی روبه‌رو شده‌اند.



# شبی که زمین نعره کشید(داستان کوتاه)

ادیب عبدالوارث "ستانکزی"

دریکی از دره‌های زیبای کنر افغانستان، جاییکه کوه‌های بلندی مانند کوه‌های پامیر و درختانی به بلندی آسـمان دارند، که با دیدن شان چشـــــم‌ها سیاهی می‌کند، خانواده کوچکی زندگـی مـی‌کـرد، خانواده فقیـر اما با دل‌های چون دریا. عـــثمان، بچه‌ی کوچک و کـــنجکاو خانواده، که همکار و یاور پدرش بود، درکنار این‌که درس مـی‌خواند بـرای پیدا کـردن نفقه حلال با پدرش نیـز همکاری می‌کرد. شـــبی از شـــب‌ها عثمان کنار پدرش عبدالله نشسـته بود و با چشـم‌هایی آبی زیبا، از اتفاقات روز برایش قصه می‌کرد: «پدرجان! امروز وقتی از مکتب بر می‌گشتم، پشک‌ی را دیدم که کنار نهرآب گیر مانده بود و به کمک نیاز داشـــت من کمکش کردم تا دوباره راهش را پیدا کند»

عبدالله لبخندی زد عثمان را نوازش کرد و گفت: «کمک به دیگران از کارهای است، که رسول الله(ص) به آن امر کرده است و باعث خشـــنودی خداوند(ج) می‌شود، اگر ما به مخلوقات خداوند(ج) رحم کنیم خداوند(ج) نیـــز به ما رحم خواهد کرد...»

صدای چرچرک به گوش می‌رسید، باد ملایم برگ درختان کنار خانه را تکان می‌داد و صـــدای شـــرشـــر آب که کنار خانه‌شــــان جاری بود به گوش می‌پیچید. بوی خوش دســــــت پخت مادرش همه جا را گرفته بود، خواهر کوچکش خدیجه درگوشــــه‌ی از اطاق با گودی‌اش بازی می‌کرد. شــــبی آرام و پر از خیال بود؛ اما هنوز هیچکس نمی‌دانست زمین چه نقشه‌ای دارد.

ناگهان عثمان احســــاس کرد زمین می‌لرزد؛ نه فقط یک لرزش ســـاده، بلکه مثل اینکه یک حیوان بزرگ روی زمین نشـــســـته باشد و بخواهد از جا بلند شود. خانه گلی کوچک‌شـــان شـــروع به تکان خوردن کرد، ســـقف ترک برداشت و خاک و صدا همه جا را پر کرد.

همه فرارمی‌کردن، خانه‌ی که همه در بین اش احساس آرامش مـی کـرد حالا همه ازش فـرارمـی کـردند، انگار خانه‌ی کوچک گلی شان هیولا گشـته بود که همه را در خود مـی بلعید، عثمان و مادرش فـرارکـردند، عبدالله با تمام توان رفت تا دختـرکوچکش خدیجه را نجات دهد، عبدالله توانست تا نزدیک دروازه بیاید ولی با آخرین قدم هایش پایش گیرکرد افتاد، روی زمین سـقف به روی عبدالله ویران شـد، بله همان هیولا ترسناک عبدالله را در خود بلعید، مادرش خدیجه را ازروی زمین بلند کـرد ولـی کاری برای عبدالله نمی توانسـت انجام دهد. عثمان مات و مبهوت مانده بود و قلبش مثل طبل می‌کوبید، پدرش را دیگرنمی‌توانســت ببیند. فریادها ازهمه طرف بلند بود، فریاد کودکی که به صدای لرزان و وحشـت زده پدرش را به ندای کمک صدا می‌زند، پدری وحشـت‌زده و ترسیده که دنبال پســرش زیریک عالم خاک و چوب می‌گشـت، مادرشوک دیده که تلاش دارد فرزندان کوچکش را دلداری بدهد. کودکان، مادران و مـردان، همه درجستجوی نوری برای امید. عثمان با چشـمانی پر ازاشـک و با دسـتان لرزان و کوچکش تلاش دارد تا پدرش را اززیرخاک نجات دهد. خانه گلی کوچک عثمان حالا یک تپه ازخاک و چوب تیرگشته بود. عثمان و مادرش هرچه تلاش کردند نتوانسـتند تا عبدالله را اززیرخاک و چوب بیرون کنند، عثمان با صدای بلند فریاد می‌زد تا کسـی کمکش کند.

درهمان لحظات، صدای چرخش تایرموترو حرکت قدم‌ها به‌گوش رسـید: کارمندان هلال احمرافغانی! آن‌ها دوش‌کنان به نـزد عثمان آمدن تا پدرش را اززیـرخاک نجات دهد، آن‌ها موفق شـدند تا عبدالله را اززیرخاک نجات دهد ولی دیگه دیرشـده بود، عبدالله دیگرزنده نبود. حالا خانواده کوچک عثمان دیگـرپدرو حامـی نداشت و عثمان شـد سـرپرسـت خانواده، کارکنان حلال احمرافغانی با خود خیمه‌های سـفید و کمک های اولیه اضـطراری را با خود آورده بودند. وقتی خیمه‌ها را باز کردند، نورمهتاب روی پارچه‌ها می‌افتاد و رنگ سـرخی داشـت، انگارزمین خونین اسـت اما امید در دل‌ها زنده مانده.

امدادگـران آب، غذا، دارو و کمک های اولیه را بین مـردم توزیع کردند. یکی ازآن‌ها دسـت عثمان را گرفت و گفت:

«نگران نباش، ما اینجا هستیم تا با هم بسازیم.»

دیگرخبری ازآرامش و سـکون نبود، شـبی سـخت و طولانی شـد. صبح که شـد، نورخورشـید روی خیمه‌های سفید با نشـان سرخ مهتابی می‌تابید و مردم با کمک هلال احمرافغانی خانه‌های موقت سـاخته بودند. درد و رنج هنوزدرهوا موج می‌زد، اما امید و مهربانـی درنگاه‌ها روشن بود.

بیاید تا می‌توانیم دسـت هم‌دیگررا بگیریم و با هم کمک کنیم همان‌گونه که پیامبربزرگوار ما حضـرت محمد مصطفی(ص) می فرماید:

«وعن أبي موسـى اشـعرى قال: قال رسـولُ الله ص: «إنَّ الأشـعَريين إذَا أرملُوا في الْغَزْوِ، أَو قَلَّ طَعَامُ عِيَالِهِم بالمَدِينَةِ، جَمَعُوا ما كَانَ عِندَهُم فـي ثَوبٍ وَاحِدٍ، ثُمَّ اقْتَسَمُوهُ بَيْنَهُم فـي إنَاءٍ وَاحِدٍ بالسَّوِيَّةِ فَهُم مِنِّـي وَأَنَا مِنهُم» متفقٌ عليه.

ترجمه: «ازابو موسـى اشـعری روایت شـده اسـت که پیامبر(ص) فرمودند: «اشـعری‌ها(طایفه‌ی اشـعری)، وقتی درجنگ توشه‌شان تمام می‌شد یا درشهرطعام زن و فرزندان‌شـان کم می‌شـود، هرچه دارند، دریک جامه جمع و با پیمانه‌ای یکسـان، بین خود تقسـیم می‌کنند، پس آنان ازمن هسـتن و من ازایشـانم» [ریاض الصالحین، ب ۶۲، ح ۶۳۳].



# خدمات رضاکارانه، اهمیت، چالش‌ها و راه‌های بیرون رفت از آن در افغانستان

**محمد موسی اواب**

پیوسته با گذشته

**مبحث دوم ـ اهمیت خدمات رضاکارانه:**

اهمیت خدمات رضاکارانه شبیه به سایر امور از نتایج که برآن مرتب می‌شود برملا می‌گردد، بناء جهت دانستن اهمیت خدمات رضاکارانه نتایج مرتبه آن را تحت بررسی گرفته تا بتوانیم بر اهمیت خدمات رضاکارانه روشنی اندازیم:

۱ـ بالأثر انجام شدن خدمات رضاکارانه منظم و نهاد گونه اسلوب علمی یی که علمای انسانی تصویب کرده اند تطبیق می‌شود.

۲ ـ یک نهاد منظم رضاکار می‌تواند با جهت‌های مماثل جهانی روابط خویش را قایم کرده و به شکل رسمی در کنفرانس‌های ایشان اشتراک ورزد تا تبادله معلومات صورت گرفته و از تجارب و داشته‌های فنی ایشان استفاده کند و نیز کمک‌های مالی را از ایشان بدست آرد.

۳ ـ خدمات رضاکارانه در حقیقت نمای یک جامعه است که دلالت به دیانت، پیشرفت، ترقی، حیویت، ایجابیت و نشاط جامعه می‌کند و به جامعه جهانی یک تصویر انسانی یی را که خالی از تعصبات قومي، نژادي، منطقوي و لسانی باشد تقدیم می‌کند.

۴ ـ یک جامعه با داشتن نهاد رضاکاری می‌تواند مصلحت خویش را در امور جدید تجربه نماید و امور جاری خویش را تغیر دهد.

۵ ـ حصول ثواب اخروی: چون رضاکار طبیعتا منافع مادی را درنظر نمی‌دارد و بلا عوض فعالیت می‌کند و بزرگترین متکاء و مشوق اش ثواب اخروی می‌باشد، بناء مسلمانان نظر به علاقمندی سرشار که به ثواب اخروی دارند، بدون احساس خستگی به تمام علاقمندی و اخلاص فعالیت می‌کنند، از جمله ده ها نصوص شرعی که در مورد رضاکاری وارد شده است، این حدیث شریف را مشت نمونهٔ خروار تذکر می‌کنم، که می‌فرماید: "مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَاللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ اَخِيْهِ" حدیث صحیح رواه مسلم عن ابی هریره

ترجمه: کسیکه از شخص مؤمن مشکلی از مشکلات دنیا را مرفوع سازد، الله متعال مشکلی از مشکلات روز قیامت را بالایش آسان می‌سازد، و کسیکه بالای تنگ دست آسانی آرد، الله متعال در دنیا و آخرت بالایش آسانی می‌آورد و ما دامیکه بنده در مدد برادرش باشد، الله متعال در مدد او می‌باشد.

بشـــارت‌های که درکلمات کوتاه و جامع گنجانیده شده است برای یک رضاکار کافی است تا رضاکار واقعی شـود، از اثر چنین کلمات در جامعه اسلامی فضای اخوت، همدیگر پذیـری، اعتماد، محبت، ایثار، همدردی، کمک و همکاری، خشـــنودی و رضامندی، آرامش ضمیر... خلاصه اینکه در کرهٔ خاکی فضای جنت گونه مساعد خواهد شد.

۶ـ همکاري با دولت: بناء بر تغیرات محیطی، اجتماعـی و بلند رفتن احصائیه مردمي و متوالیشـدن حوادث طبیعی و غیر طبیعی حکومت‌ها نمی‌توانند که بصورت متداوم به مصـیبت زده‌گان مســاعدت نمایند و احتیاجات مردم را مرفوع سازند، خصــوصا در حالات اضطراری که در مناطق مختلف چندین واقعه همــزمان رخ دهد، نیاز به خدمات رضاکارانه مردم احســـــاس می‌شود تا همکار حکومت خویش باشند.

۷ـ احســـــاس وطن دوستی: با انجام شدن خدمات رضاکارانه احســـــاس وطن دوستی در مردم احیاء شده رشد می‌کند. از یک طرف کســیکه با وی کمک شده است احساس تنهای در مقابل مصـیبت نکرده و همنوعانش را دوســـت خود می‌یابد و از طرف دیگر چون کمک کننده‌ها ادای مسئولیت کرده اند، احساس راحت ضمیر می‌کنند.

۸ـوسـعت دایره تفکر: خدمات رضـاکارانه ممثل راسـتین توانائي افراد بر بیرون شــــدن از دایره‌های کوچک چون فامیل، قوم، قبیله و قریه به یک دایره وسـیعتر چون امت و جهان می‌باشــد، که در لابلای آن مفکوره اراده اجتماعی بمنظور خیرو فلاح اجتماع تقویت می‌شود.

۹ـ تدارک ضرورت‌ها و چگونگی بیرون شدن ازآن: از جمله افراد مجتمع به یک فرد رضـاکار همین قدر کافی اسـت که طبیعت و مزاج احتیاجات، مشــکلات و چگونگی تعامل با آن را درک می‌کند. و در آینده می‌تواند جوابگوی مشــکلات شخصی خود و هموطنان باشد.

۱۰ـ از بین رفتن خالیگاه‌ها: رضـاکاران تربیه شـده و مجرب مـــی‌توانند که خالیگاه‌های کاري نهاد و جامعه را از بین ببرند.

۱۱ـ تعبیه و توجیه طاقت‌های بشـــری: خدمات رضاکارانه توانای‌های بشــري و مادي را تعبیه و توجیه کرده تا به یک عمل مثمر نایل گردند.

۱۲ـ توســـعه خدمات: خدمات رضـــاکارانه مجال و بنیان خدمات را توسعه بخشـیده تا تکافو تحقق یافته و بتواند که به مناطق دوردست و محروم از خدمات خدمت صـورت گیرد تا عدل تحقق یابد.

۱۳ـ به کار انداختن ظرفیت‌ها: ظـرفیت‌های خامل و عاجـز، به ظرفیت‌های توانا، عمل کننده و مثمر تبدیل می‌شود.

۱۴ـ دلالت به ترقی: خدمات رضـــاکارانه یک پدیدهٔ مهمی اسـت که به ضـمیرهای زنده اکثریت مردم و مثبت گرایي ایشــان دلالت می‌کند از همین جهت است که بر مبنای آن، بر پیشرفت و ترقی مردم حکم کرده می‌شود.

۱۵ـ سرعت کار: رضاکار دارای یک احسـاس حماسی داخلی می‌باشد، که این احســاس را در کارمندان رسمی و کارگران روزمزد نمی‌توان دریافت. از این رو سرعت کار بیشـــــتر می‌شود.

۱۶ـ سرفرازی در جامعه: مشـــــارکت جوانان در خدمات رضاکارانه و منسـوب شدن به آن باعث سرفرازی عزتمندی ایشان در جامعه می‌شود.

۱۷ـ خدمات رضاکارانه توانايي‌های جوانان را نمو بخشیده و مهارت‌های شخصــی، علمی و عملی ایشـــان را بیشـــتر می‌سازد.

۱۸ـ درک شـــدن چالش‌ها: به جوانان فرصــت می‌دهد تا چالش‌های را که نظام خدماتی مجتمع با آن درگیر اســت درک نمایند.

۱۹ـ توانمندی ابراز نظر: به جوانان فرصـــت می‌دهد تا در مورد قضایای مهم مجتمع ابراز نظر کنند.

۲۰ـ قدم برداشتن در حل مشــــکلات: به جوانان فرصت می‌دهد تا به تلاش‌های شخصــی خود در حل مشــکلات قدم بردارند.

۲۱ـ تشـخیص ضروریات اولیه: به جوانان فرصت می‌دهد تا ضرورت‌های اولیه مجتمع را مشــــــخص ساخته و در تصمیم گیری‌ها سهیم شوند.

# بېړنۍ اړیکشمېرې

درنو هېوادوالو!

تاســـو کولای شـــئ، په بېړنیو حالاتو کې د اړوند ولایت د افغاني ســـرې میاشـــتې د پیښبـــو پر وړاندې د ځواب ویني له ټیم سره په لاندې شمېرو اړیکه ونیسئ.

| | | |
|---|---|---|
| **شمال لویدیځ مرکزي زون** | | |
| 1 | کابل | 0707300467 |
| 2 | پروان | 0706751355 |
| 3 | کاپیسا | 0706751468 |
| 4 | پنجشیر | 0706751353 |
| 5 | بامیان | 0706751483 |
| 6 | دایکندی | 0701437098 |
| **شمال زون** | | |
| 7 | بلخ | 0706755610 |
| 8 | فاریاب | 0706751068 |
| 9 | سمنگان | 0706751023 |
| 10 | جوزجان | 0706751731 |
| 11 | سرپل | 0706751099 |
| **شمال ختیځ زون** | | |
| 12 | بدخشان | 0706751993 |
| 13 | کندز | 0706755605 |
| 14 | بغلان | 0706752042 |
| 15 | تخار | 0706457792 |
| **ختیځ زون** | | |
| 16 | ننگرهار | 0708622698 |
| 17 | لغمان | 0730415027 |
| 18 | کنر | 0706755732 |
| 19 | نورستان | 0706751102 |
| **جنوب ختیځ زون** | | |
| 20 | پکتیا | 0706755607 |
| 21 | پکتیکا | 0706751011 |
| 22 | خوست | 0706751050 |
| 23 | غزنی | 0706751672 |
| 24 | لوگر | 0708622702 |
| 25 | میدان وردگ | 0706750959 |
| **لویدیځ زون** | | |
| 26 | هرات | 0796867786 |
| 27 | نیمروز | 0794929392 |
| 28 | فراه | 0706755494 |
| 29 | بادغیس | 0792190447 |
| 30 | غور | 0700045848 |
| **جنوب لویدیځ زون** | | |
| 31 | کندهار | 0706751187 |
| 32 | ارزگان | 0704287991 |
| 33 | زابل | 0703332662 |
| 34 | هلمند | 0708997906 |

افغانستان دا مهال د طبیعي پېښو، بې‌وزلۍ او پراخو بشري اړتیاوو له ننګونو سره مخ دی. افغاني سره میاشت هڅه کوي؛ څو له خپلو نړیوالو شریکانو سره په همغږۍ د هېواد په بېلابېلو سیمو کې زیانمنو وګړو ته پروخت مرستې ورسوي. موږ یوازې تېره میاشت کې +۲۲ زرو څخه ډېرو داخلي بې‌ځایه شویو ته مرستې رسولي دي.

**شیخ‌الحدیث شهاب الدین دلاور**

د افغاني سرې میاشتې عمومي رئیس

## د افغاني سرې میاشتې قلبي روغتون

**ډېر ژر...**

